اکثریت افغانها میدانند که موجودیت نیروهای اشغالگر در افغانستان به معنی تداوم جنگ وبه درازا کشیدن علت جهاد میباشد، ملت غیور افغان که در مقابل اشغال کشور دست به اسلحه زده است، یک فریضه ء الهی را به جامی آورد وحق دارد تا از حریم دین، کشور و نوامیس ملی خویش تاحد توان دفاع نماید، همه کشورها در جهان دارای پرنیسپ های هستند که روی آن اختیار کامل مملکت، سرحدات، نظام و سرنوشت مردم خود را تصاحب میکنند وبه مبنای آن تصمیم چه گونگی روابط رابه کشورهای دیگر مشخص میسازند. ولی اشغال کشورها توسط اجانب سبب میشود که هر ملت را از راهی که در چهار چوب باورها، منافع و اصول زند گی مردم خود انتخاب نموده باز گرداند، مانع شده وملکت تحت اشغال ومردم آنرا به گرو گیرد. زمانی که آمریکا تجاوز نامشروع خویش را بر حریم مقدس کشور ما آغاز می نمود نماینده های اصیل وواقعی این مرز وبوم به صراحت تام برای شان هشدار داد ند که اشتباه را مرتکب میشوند که بعدا به آن پیشمان خواهد شد. اکنون آمریکا و امریکا شناسان به همین باور اند که آمریکا در جنگ علیه افغانها هیچ چیزی را به دست نیاورده ولی در مقابل فرصتهای زیادی را از دست داد، امریکا یکتاز کشورهای دنیا بود واکنون به آن بهای بزرگ فروخته نه میشود. آمریکا توسط سخن خویش بسیاری از کشورها را زیر سلطه خویش نگهه میداشت ولی اکنون آن موقف را ندارد. اقتصاد آمریکا نشانه یی از زور وقدرت آن کشور به نظر میرسید ولی اکنون خودش قرضدار ترین مملکت در همتطاران خویش است، آمریکا توسط مادیات دست داشته خویش باخود می بالید ولی اکنون همه چیز برملا شده وآمریکا روبه زوال در حرکت است، اختلاف بالای قانون ازدیاد مالیه بر قشر پول دار در آمریکا، عدم باور بهبود اقتصاد وناتوانی در جلو گیری از فاجعه اقتصادی برای حاکمیت آمریکا سر گرمی و نگرانی ء ازهمه کلانتر محسوب میشود، این همه ضربات در نتیجه آغاز جنگ زور گوی ومتکبرانه این کشور بود، افغانها به آمریکا هشدار داده بودند که جنگ در افغانستان مثل جنگ در یو گسلاویا سابق نه خواهد بود، این مملکت ولو که محتاج است، فقیر است، سطحه دانش و سهولت های زند گی در آن پاین است ولی در غرور خویش همتا ندارد. این ملت، ملت با عقاید ولای اسلامي است. این ملت دارای اصول کرامت انسانی است که ظلم را به هیچ وجه تحمل نخواهد کرد، این ملت حوصله بلند جنگی در حین ضرروت دارد، این ملت را اسیر کردند ومنحرف نمودن قیمت بسیار گران میخواهد وتااکنون هیچ کس به آن رسیده گی نه کرده است. ولی آمریکا این همه واقعت ها را باور نکرد وآن را تبلیغات میدانست !!! اکنون شاید دانسته باشد که راه که خودانتخاب رفتن به آن را کرده است یکی از اشتباهات فراموش ناشدنی در تاریخ آمریکا خواهد بود.

همچنان ما بار دیگر به ملت آمریکا و سرمداران آن کشور به بسیار صراحت میگویم که اگر آمریکا خواسته باشد در این کشور بعد از شکست خویش تعداد از عساکر خویش را ترک نماید، پس این جنگ هرگز پایان نه یافته، آمریکا باید منتظر حالت بدتر از اکنون باشد. افغانها اجازه نه خواهد داد یک نظامی امریکا و کشور دیگر یورش گر در این خاک به آرامی به سر برد، این تنها سخن و تبلیغات نیست ما در عمل ثابت خواهیم کرد، ولی آن زمان که آمریکا این واقعیت را نیز پی میبرد بسیار دیر خواهد بود، در ضمن مزدوران داخلی امریکا هم باید بدانند که جنایات وخیانت های ملی را که در یازده سال تداوم اشغال علیه مردم خود و به نفع یورشگران مرتکب شداند به آنها بس است. نه باید هنوز هم بار مسئولیت ها و دوسیه ها جرمی خود را خود سنگین نمایند، آنها چون خواص ملت خویش را با باورهای که این ملت دارد خوب درک می نمایند پس نه باید هنوز هم خودرا در تغافل عارفانه قرار داده با خارجیها پیمان های نامشروع را امضاء نمایند، ما هرگز اجازه نه خواهیم داد که این ملت تحت اسارت باقی بماند. ما بخاطر نجات این مرز وبوم از همه وسائل لازم استفاده خواهیم کرد. ولی مسئولیت های بعدی بدوش همین مزدوران خواهد بود که هنوز هم یورش را علیه ملت خود به درازا میکشند، ما میدانیم که شاید این دسته از نااهلان منافع شخصي خویش را توسط اقدامات نامشروع خود حفظ می نماید و در فکر آرامش خواهد بودند ولی هرگز چنین نه خواهد شد. این ملت قرارداد شاه شجاع را با انگلیس ها ترد کرد. این ملت پیمان کارمل را با شوروی سابق نه پذیرفت واکنون هم همان ملت به همان غیرت وهمت خود وجود دارد. پس در مورد باید هر افغان واقعی متوجه عواقب فاجعه آفرین تداوم اشغال و باقی ماندن نظامیان بیگانه در این خاک باشد، این چنین اقدامات که سبب طولانی شدن اشغال مملکت میشود ،خاک ما را به میدان بزکشی آمریکا با تعداد از کشورهای منطقه مبدل می نماید، جزء فیصله ضدمردمی و فروختن خاک خود چیزی دیگر نیست، اگر مزدوران امریکا خود را تحت فشار از طرف آمریکا می بینند، پس آن مجبوریت خود را با ملت خود مطرح سازند. این ملت توانمندی آن را دارد که بیچاره و اسیر خویش را از ظلم نجات دهد، ولی راه حل این نیست که به سرنوشت مردم خود بازی کرد و در راه حفظ سروت های شخصی، منافع ملی و وجاهت اسلامي تمام کشور را به باد داد، کسانی که ضمیر اسلامي وافغانی دارند آنها درک کرده اند که بازیچه های امریکا در کشور ما بخاطر همین روز فربه شده بودند، ولی بهتر آن است که خود همین دست نشانده ها هم عوض در گیر ماندن در اسارت راه دیگر ومناسب تر را برگزینند، به ملت پناه برند و از ملت خود خواستار یاری و همکاری شوند تا همین ملت آنها را از چنگال اشغالگران نجات دهد. این ملت، ملت باغیور است وهمیشه به درمانده گان خود دست یاری داده اند ولی شرط خواهش نمودند همین در ماند گان است تامعلوم شود که اینها تحت فشار و اکراه قرار دارند یا خود خواسته به منافع ملت خود بازی میکنند.

د مورچل دارالافتاء

مفتي ابوماريه

دغنيمت دتقسيم څخه وړاندې که څه ملگري بېدرکه شول؟.

الاستفتاء: دیرغلگرو سره جگړه وشوه بیادوه دري کسن دغنیمت دتقسیم څخه وړاندي کورته ولاړ ل مگرموږ ته یې دکور درک نه معلومیږي اوس یې دغنیمت په برخه څه چل وکړو ؟اسدالله خان

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: غنیمت دې تقسیم شي دهغوئ برخه دې وساتله شي هروخت چې وموندل شي خپله حصه دې ورکړه شي ، که چېرته ددغه مال ساتنه گرانه وي اودمالکانو موندل هم په غالب الظن ناشونې وي نوله یوه کاله وروسته دهغوئ برخه صدقه کولی شي. والله تعالی اعلم

في الهندية ۲۱۷\۲ ولو أن جندا عظيما أصابوا غنائم وأخرجوها إلى دار الإسلام فلم يقسم حتى تفرق الناس ، وذهبوا إلى منازلهم . ولا يعرف منازلهم ، وبقي البعض منهم أعطى الإمام الباقين أنصباءهم ، ويمسک حصة الغيب ، فإذا مضى سنة ، ولم يجيء لها طالب تصدق بها. ومثله في التاتارخانية ۳۴۹\۵

الاستفتاء **دملي پیوستون په باب :**

په دې حکومت کې یو ارگان دی په نامه د "همبستگي ملي "دغه ارگان خلکوته پیسي ورکوي، ددې لپاره چې خلک په خپل کلې کې دکلې ویالې، پولچکان او سړکان جوړکړي . خو زمونږ پوښتنه داده :

چې کچېرې خلکو دغسې پیسې اخستې وي، پر لاره یې مجاهدینو مخ ونیوئ، آیا مجاهدینو ته روا کیږي چې دغه پیسې ددې خلکو څخه واخلي؟؟؟آیا مجاهدینو ته رواکیږې چې دد ې خلکو مخه ونیسي او دغه مذکوري پیس ې ځرې ضبط کړي، اوپرمجاهدینو باندي یې مصرف کړي؟؟؟

د "قلعه کاه فراه" دولسوالی یو مجاهد

الجواب حامدا او مصلیا وبعد: که چېرې دغه پیسې د اشغالګرو وي نو ترڅو چې ولسي وګړو ته نه وي رسیدلي او هغه يې مالکان نه وي جوړ شوې بلکې د یو معتمد په لاس کې وي مجاهدین کولی شې چې ځینې وایې خلې ، لاره ورته ونیسې ، په مجاهدینو يې مصرف کړي ، که بې د جنګه يې ونیسې بیت المال ته يې وسپاري.

او که د یرغلګرو د دوستانو یعنې د کرزي د اجیري اداري وي نو په هکله يې د اسلامي امارت لایحه په ۳۳ ماده کې داسې وضاحت کوي:

33- هغه پیسې چې له عمومي خزانې ((بانک)) څخه را ایستل شوې وې او د معتمد په لاس کې وې او تر دې وخت پورې يې مزدورانو او مامورینو ته نه وې تقسیم کړې ؛نو که په جنګ سره ونیول شي د غنیمت په شکل دې تقسیم شي او که بې جنګه ونیول شي بیت المال ګرځي ، البته که دا پیسې مامورینو او مزدورانو ته ورکړل شوي وي بیا يې دغه مامورین او مزدوران مالکان ګرځي امام ،قاضي او د ولایت مسؤل کولاي شي چې دغه کسانو ته تعزیر ورکړي خو دغه پیسې ور څخه اخستل کېدای نشي ،د مؤسسو د مزدورانو اجرت (مزدوري) هم دا حکم لري.

ماخذونه:

قال الله تعالی : وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ(113) هود

د معارف القرآن د تفسیر په ۶\ ټوک ۵۸۱ مخ راغلی: بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ( ) النمل

یعني کله چې سلیمان علیه السلام د ملکه بلقیس هدایاوې رد کړې نو .. د مسئلې تحقیق دادی چې که د کفرانو د هدایاو په قبلولو کې د مسلمانانو په کوم مصلحت کې خلل راتلل ،یا د کافرانو په حق کې د مسلمانانو په رایه کې کمزوري راتله نو بیا يې د هدیو قبلول جائز نه دي ، بحواله روح المعاني

وفي الحديث : اوحی الله الی نبی من الانبیاء ان قل لقومک لایدخل مدخل اعدائې ولایلبس ملابس اعدائې ولایرکب مراکب اعدائی ولایطعم مطاعم اعدائې فیکون اعدائې کماهم اعدائې . الزواجر- ۱\۱۱ لابن الحجر والفتاوی الرحیمیه ۱۰\۳۳۱ للاجبوري

وفي فتح الباري ۵\۱۳۲ وجمع غيره بان الامتناع [اى امتناع قبول هدايا الكفرة] في حق من يريد بهديته التودد والموالات الخ. وفى المحيط ۸\۷۱ ومتى الحالة هذه لايجوز قبول الهدية لان سبيل المسلم ان يكون غليظا شديدا على الكفرة الخ

په فتاوى حقانية ۵\۳۴۱ کې راغلي: دکافرانو شيان اخستل په دي شرط جائز دي چې اسلام اواسلامي اقداربه ځيني متاثرنه وي. والله تعالى اعلم

آيا داسير دقتل ياخلاصون فيصله ترلوى امير پوري اړه لري ؟

الاسفتاء : محترم مفتي صاحب داراته واضحه کړه چې داسير دقتل ياخلاصون فيصله ترلوى اميراونائب پوري اړه لري اوکه داچې دلګى مشر يابل مشريې هم کولى شي ؟ المستفتي م ع افغان

الجواب حامدا ومصليا وبعد: هو داسير دقتل ياخلاصون فيصله يواځې ترامام پوري اړه لري ، بل څوک په اسير دغه ډول فيصلي نشي کولاى؛

البته: که بندي مهم وي ، امام يا بل مسئول مشر ته يې رسول مشکل وي د يو عارض له امله: لکه د دښمن نږدي کېدل ، د بندي سختي له مجاهدينو سره ياداچې هغوئ يي له بيولو څخه واقعا عاجز شي نوبيا يې همدغه مجاهدين هم په هکله فيصله دمرګ کولى شي.

في البحر ۱۳\۳۳۳ م يفعله الامام بالاسرى ؛ قوله وقتل الأسرى أو استرق أو تركهم أحرارا ذمة لنا) يعني أن الإمام بالخيار إن شاء قتلهم لأنه عليه السلام قد قتل ولأن فيه حسم مادة الفساد وإن شاء استرقهم لأن فيه دفع شرهم مع وفور المنفعة لأهل الإسلام وإن شاء تركهم أحرارا ذمة للمسلمين لما بينا إلا مشركي العرب والمرتدين فإنهم لا يسترقون ولا يكونون ذمة على ما نبين إن شاء الله تعالى وليس له فيمن أسلم منهم إلا الاسترقاق لأن قتله أو وضع الجزية عليه بعد إسلامه لا يجوز. قيد بكون الخيار للإمام لأنه ليس لواحد من الغزاة أن يقتل أسيرا بنفسه لأن الرأي فيه إلى الإمام فقد يرى مصلحة المسلمين في استرقاقه فليس له أن يفتات عليه .

وفي شرح سير كبير: باب قتل الأسارى والمن عليهم . قال عليه السلام: "ليس للمرء إلا ما طابت به نفس إمامه" إلا أن يعالجه الأسير ويقصد الانفلات من يده حتى يعجزه عن أن يأتي به الإمام. فحينئذ لا بأس بأن يقتله، قد فعل ذلک غير واحد من الصحابة

ذبیح الله (مجاهد)

څو شېبې له خپل ولس سره

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! مجاهد صیب زما پوښتنه داده چې امریکا غواړي ځینې عسکر په افغانستان کې وساتي ، اسلامي امارت یې په مقابل کې څه ډول تیاری لري ؟ ملا نوراحمد همدرد

ځواب: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ، هو ! موږ پخواهم ویلي وو امریکایان زموږ خاورې ته د اوږدو موخو او پټو هدفونو لپاره راغلې او غواړي ترممکنه بریده خپل عزایم پوره کړي ، دغه د عسکرو ساتل په افغانستان کې هم د سیمې د تهدید او ویرولو لپاره دی او غواړي زموږ هیواد په سیمیزه کچه له ډیرو نورو هیوادو سره په مشکلاتو اخته کړي ، له بله پلوه امریکا غواړي زموږ په هیواد کې یو سوچه اسلامي حاکمیت مینځته رانشي هغه چې زموږ د پخواني او اوسني جهاد ترټولو لوی هدف وو او ده ، امریکا غواړي په سیمه کې دیو تعداد عسکرو په نامه په عموم کې خپل موجودیت وساتي او زموږ ټوله خاوره هروخت چې یې غوښتي وي په بیلابیلو نومونو استعمال کړي او په دې لاره کې به یې د کابل اداره په وړاندې هیڅ هم ونشي کړای ، خو د اسلامي امارت سرښندونکي مجاهدین به دیوې ورځې لپاره هم اجازه ورنکړې چې امریکایان دلته د آرام ساه واخلي او یا په خپلو اډوکې محفوظ ووسي ،زموږ جهادبه یې په وړاندې جریان لري ، هیوادوال به مو لاهم د دښمن بدې هیلې درک کړي . کورني اجیران به لا هم ښه وپیژندل شي چې د خپل ځان د بقا لپاره د هیواد له ملي ګټو ، استقلال او آزادۍ سره په څومره اسانۍ لوبه کولای شي ، په هغه صورت کې بیا نو هیوادوال او مجاهدین په هماهنګۍ سره پوهیږي چې دداسې فتنو په وړاندې باید څه وکړي او څرنګه خپله آزادي لاسته راوړي ،موږ د دښمن د دغو ټولو دسیسو په وړاندې د جهاد ادامه یواځني وسیله اولار بولو چې کولای شی هم موږ ته عزت را وبښي او هم مو هیواد او په طوفیلی ډول ټوله سیمه د امریکایي استعمار له

منګولو وژغوري ، هيله ده دهيواد ځوانان لاهم ددې مسئله حساسيت او خپل مکلفيت ته ځير شي او دخپلو مجاهدين ورونو لاهم ټينګه تنګه او کلک ملاتړ وکړي. مننه

محترم مجاهد صيب زما سلامونه او نيکې هيلې ومنه، خداى تعالى دې وکړي چې تاسو او ټول مجاهدين ورونه خوښ او خوشحاله واوسئ. زما پوښتنه داده چې داسلامي امارت لائحه چې دمجاهدينو لپاره تياره شوي ده ځينې ځايونو کې دهغې نه سرغړونه تر ستر ګو کېږي تاسو ددې مسئلې دحل لپاره څه تدابير لرئ؟ که ځواب مو راکړ خوښ به شم. ننګيالى

ځواب ـ وعليکم السلام ! اسلامي امارت دمجاهدينو دنظم او فعاليتونو دښه والي او په عين حال کې د اسلامي قوانينو دښه رعايت لپاره ځانګړې لائحه تياره کړې چې عملي کول يې په هرمجاهد باندي واجب دي ، ځکه له يوې خوا دغه دلائحې مواد دشريعت احکام دي او له بله پلوه دامير امر چې ددواړو اطاعت واجب ده ، نو ځکه هرمجاهد مکلف ده چې هره هره ماده په دقت سره ولولئ ، ځان پرې پوه کړي او بيا عمل پرې وکړي ، داسلامي امارت ټول مافوق مسئولين په ټولو برخو کې مکلف دي چې په ماتحت باندي داسلامي امارت لائحه ټکى په ټکى عملي کړي او که خداى مکړه چې چېرته سرغړونه وليدل شي حتما به مسئول کسان مجازات کېږي او دنه اصلاح په صورت کې حتى له کاره کېښنول کېدلى شي او له صف نه اخراج کېدلاى شي ، ستاسو محترم نه او ټولو هيوادوالو نه هم زموږ اميد داده چې دمجاهدينو لخوا د لائحې په مادو نه د سرغړونکو په اړه موږ ته بې پرې او کره معلومات راکړئ موږ به يې په ټوله ممکنه طريقه مخه نيسو او له سرغړونکو سره به دقانوني لارو چارو نه اجرات کوو ، ستاسو له تشويش او معلوماتو نه يوه نړۍ مننه.

محترم مجاهد صيب زما لخوا سلامونه او نيکې هيلې ومني !

زما پوښتنه داده چې اسلامي امارت ولې دهغو امريکايانو په وړاندي دخپلو مجاهدينو په وسيله جدي ګامونه نه اخلي چې دااوس اوس لګيادي خپل ټانکونه او نور جنګي وسائل د اکمالاتي ټيلرونو په وسيله د مختلفو لويو لارو نه باسي او مخ په پاکستان يا تاجکستان روان دي ؟ هيله ده ځواب راکړئ ، بشير عائل

ځواب ـ وعليکم السلام ! ستاسو تشويش په ځاى دى، ان شاء الله مجاهدين به پخپل ټول قوت هغو لارو ته متوجه وي چې زموږ هيواد له ګاونډيو هيوادنو سره تړي او بيا په دغو لارو د تښتيدونکو امريکايانو او ملګرو لخوا بې نظامي وسائل ايستل کېږي ، ددوئ ددغو وسائلو غنيمت کول او يا له منځه وړل زموږ لويه هيله ده ، دا اوس به تاسو زموږ دخبري منبعو څخه اورئ چې زموږ مجاهدين دبغلان ولايت په مختلفو سيمو کې او

هم دننګرهار ، میدان وردګو ، غزني ، زابل او کندهار په لویولارو ددښمن ددوارو خوا نه اکمالاتي او تښتیدونکې کاروانونه څاري او بریدونه پرې کوي ، خویوڅه شته چې دژمي دیخنۍ له وجې په دغو لارو کې تل کمینونه نیول ګران وی نو مجاهدین داکار په وقفوي ډول کوي ، خو ان شاءالله چې څرنګه په هیوادکې هوا بیرته د تودوخي خواته ځي نو به دیو منظم پلان له مخې هم داکملاتي او د تښتیدونکو امریکایي کاروانونو په وړاندي جدي ګامونه پورته کېږي ترڅو یي وسائل غنیمت یا له منځه یوړل شي ، دا دوه ورځې کېږي چې دننګرهار ولایت په جلال آباد او تورخم سړک باندي ۸ امریکایي ټانکونه چې په ټیلرونوکې باروو دمجاهدینو لخوا په ماین الوزول شوي او مکمل حریق شوي دي البته دغه ټانکونه هم دتورخم دلارې دپاکستان په لور تښتیدونکی امریکایي کاروان وو . مننه ۴

بناغلي مجاهد صیب السلام علیکم !

زما سوال دادی چې داسلامي امارت سایټ ډیر وخت بندوي چې داڅه وجه ده ، آیاآدر سونه مو بدل کړي او که نه بله وجه یامشکل ده ؟ محمود دپوهنتون محصل

ځواب ـ السلام علیکم !

تاسو ته به معلومه وي چې موږ له ډیر یو قوي دښمن سره په جګړه کې بوخت یو او په عین حال کې ډیر متکبر اومغرور دښمن هم ده چې هیڅ دنیاوالو اصولو ته ځان ژمن نه بولي ، داډیر موده کېږي چې زموږ په الاماره ویب پاڼه باندي په کراتو په غیرقانوني ډول ددښمن لخوا بریدونه کېږي او خرابیږی ، اګرکه زموږ تخنیکي مسئولین هڅه کوي چې ددښمن دغه حملې شنډې کړي مګر داچې دښمن په تخنیکي لحاظ ډیر مجهز ده نو په نویو لارو او طریقو یا په ډیرو مصارفو سره زموږ پاڼه چې صرف واقعیتونه خپروي نشر ته نه پریږدي سره له دې چې دوئ دځان دګتو په مهال بیا دبیان دآزادۍ له شعاره ښه په درز کې استفاده کوي ، ،ولي که څوک ددوي په مقابل بیا هغه دبیان له ازادۍ نه ګټه پورته کوي نو بیا یي دوي دخپل تکبر له وجهې فعالیت ته نه پریږدي او په بزدلانه شکل ستونزې ورته ایجادوي ، خو موږ یي مقابلې ته چمتویو اوس مو هم سره له دې چې دوي ډیر امکنات په لاس کې لري ډیر فعالیت په نشراتي برخه کې کړي او دالاماره سایټ مشکل به هم ان شاءالله په نیږدې راتلونکې کې په اساسي ډول حل شي.

قاضي حسين احمد(رح) داسلامي ويښتابه اوحريت ځلانده ستوری!

لطيف عزم

قاضي حسين احمد(رحمه الله) چې دجنوري په ۲ نيټه د ۷۴ کلونوپه عمر وفات شو، دغه ستره هستی که څه هم دپاکستان ديوه مذهبي ګوند مشر اويومنظم اومسلط لارښودپه توګه پاتې شوی، خوسياسي، مذهبي اواجتماعي حيثيت ډيرلوړ نړيوال اوداسلامي امت ديوه څيرک اودلسوزه مشرځاي اومقام يې حاصل کړی وواوداسلامي ويښتابه اوحريت يوځلنده ستوری ګڼل کيده !

مرحوم ددې ترڅنګ چې جماعت اسلامي ډله يې ژوندی اوخوځنده ساتلې وه دعصري پوهې په يوې لويې طبقې اوپه خاص ډول په پوهنتونواونوروعلمي مراکزوکې په لکونوځوانان، استادان اونورخلک دځان پاخه ملګري جوړکړي وو

ويل کيږي چې قاضي صاحب په خپل ګوندي دعوت کې دومره خوځنده اوله کمالاتوډک ووچې يواځې په کال ۱۹۹۷ کې چې دجماعت اسلامي دممبرجوړيدنې کمپاين اعلان شوي وو ۴۷ لکه تنه په جماعت اسلامي کې شامل اوداخل کړل

دپاکستان دډان نيوز په خپلې يوتبصرې کې ويلي: دادقاضي صاحب ترحم اوبرکت ووچې دده ترسرپرستي لاندې په پاکستان کې بې شميره خيره ادارې، کلينکونه، مدرسې، تعليمي مراکز په وړياډول جوړکړل شوي دي، له زلزله ځپلو، جګړوځپلو

اوفقراووسره دقاضي صاحب په ځانګړې توجه چې څومره مرستې ترسره شوي بل هيڅ اداره اوسازمان يې مثال نشي وړاندې کولای !

هو ! دادې قاضي صاحب خصوصيت ووچې دسياست په ميدان کې يې په لمن چاداسې داغ نه وومونډلای چې دچاورڅخه نفرت اوکرکه راشي ، دخبرې اوعمل ترمنځ يې توپير نه وو ، يوسالم اجتماعي اوله اسلامي غرورنه ډک فکر اوجرات يې درلود ، دټول عالم اسلام په قضاياووکې يې ديوه ريښتيني مسلمان په توګه ځان شريک باله ، دنړۍ په هرکونج اوکنارکې به چې دمسلمان چيغه اوناره پورته شوه قاضي صاحب به ورسره خپل غږ اوخواخوږي له ځنډپرته غبرګوله

دادقاضي صاحب ايماني غروراوغيرت ووچې دروسانواوکمونيستي يرغل په خلاف يې دافغان ولس ننګه اوملاتړوکړ ، دمجاهدينواکمال ، دجګړې دزخميانو ، متاثرينو اولکونوافغان مهاجرينوپالنه يې په خورامرحمت اوپراخه حوصله سرته رسوله

داقاضي صاحب ووچې دروس په خلاف افغان جهاديې تنهادموسمي اوسياسي حلاتوله وجې نه تايداوه بلکې دژوندترپايه يې هغه جهادجهادباله اوافتخاريې پرې کاوه

همدغه قاضي صاحب ووچې دامريکايي يرغل په مقابل دپاکستان دنورويوشميراسلامي ډلوترڅنګ يې دافغان ولس شاته ودريديرغل يې محکوم کړ ، پراخې مظاهرې اولاريونونه يې پەلاره واچول اوپه هرې مرکې اووينا کې به يې په افغانستان کې دروان جهادحمايه اودفاع کوله

يوبله مهمه موضوع که څه هم پرمونږ پورې دومره اړه نلري خوله قاضي صاحب سره دربط له وجې اشاره ورته کول غواړو

په دې خبره کې شک نه ووچې دپاکستان علمای کرامواومشايخو دجماعت اسلامي دبنې اومشر مولانامودودي يوشميرنظريات اوافکار ردول اوهغه يې له ديني ګستخي سره مرادف بلل ، خوچې کله قاضي صاحب دجماعت اسلامي دمشرپه توګه منځ ته راغی هغه داکمال وکړ اودمولانامودودي ځيني اختلافي نقطي اوپارونکي تاليفات يې دخپلو ديني پوهانوپه مرسته څه ناڅه نرم اواصلاح وګرځول اوپه دې حکمت سره يې دعلماوواومشايخونزديکت ته لاره اواره کړه ، مهم علت يې داوه چې قاضي صاحب ديوه

نامتواومتبحرعالم مولانا قاضي محمد عبدالرب صاحب چې دخپل عصريو مسلمان سياستدان وواوله ديوبندي فکراومسلک سره يې ژورې ريښې درلودې ځوى وو اوهغه دځه وخت لپاره دديبوند جمعيت العلماى اسلام له لوري دپاکستان دسرحدصوبې دجمعيت علماى اسلام دصدرپه توګه هم پاتې شوى ، دهمدغه تعلق له وجې يې هغه دديوبند دمشهورمحدث اوموسس شيخ الاسلام مولاناحسين احمدمدنى رحمه الله نوم تبرکاپه خپل ځوى حسين احمد کيښود

قاضي صاحب داسلامي امت په مسايلواوپيښوکې دومره باريک بين اوله غم خوارى ډکه هستى وه چې کله صدام حسين په کويټ حمله وکړه قاضي صاحب لدې وجې چې په دې پيښه کې امريکااونوروا ستعماري قوتونوته دلاس وهنې اومداخلې پلمه په لاس ورنشي نوداکثرو اسلامي هيوادونوله مشرانو سره يې وکتل اوترينه وې غوښتل چې نوموړي موضوع ته عاجل اسلامي حل پيداکړي ، کنه ګټه به يې اسلام دښمنه هيوادونه چې په سرکې يې امريکاده ترګوتوکړي ؛ صدام حسين يې هم دعراقي سفيرانو په واسطه وپوهاوه چې ستاددغه اقدام شاته داسلام اومسلمانانولپاره لوى ګړنګ کنل شوي نوژرترژره بايدله کويټ څخه خپل پوځيان له قيداوشرط پرته وباسي

داسلامي هيوادونودمشرانودبې حسى اوامريکانوازى اودصدام دسرتمبګى له وجې دقاضي صاحب هلوځلونتيجه ورنکړه ، هماغه ووچې امريک اسلامي حريمونه پايمال کړل ، عملايې مداخله وکړه په عراق يې بريد پيل کړ اوپه عربي خاوروکې يې پښې اډې اوځالي جوړې کړې

دانن چې دعراق اوافغانستان خاورې پليتوامريکايانوپه زياتې اسانى سره اشغال اوپه ترڅ کې يې په پ کستان هم ناروا ډرون بريدونه سرته رسيږي اوپه ټول عالم اسلام امريکايي بلوسي دوام لري علت يې هماغه دقاضي صاحب اودده په څيردنوروددمنومسلمانومشرانوفريادونه اوخبرداری وي چې متاسفانه چاغوږ ورته کينښوداوهغو داسلامي امت دوحدت ټول ارمانونه اودځارخپلی حالت درانه غمونه ګورته له ځانوسره يووړل ، الله تعالى دې دقاضي صاحب خدمتونه اوهلې ځلې قبولې اوجنت الفردوس يې نصيب وګرځي ! (امين)

داشغال په وړاندې داسلامي امارت
دريځ
پيغامونه

((داسلامي امارت دريځ))
کتاب ته لنډه کتنه

ميوند سادات

په دې وروستيو کې داففانستان اسلامي امارت دفرهنګي کميسيون له لوري ((داشغال په وړاندې داسلامي امارت دريځ))په نوم کتاب پرښه سپين کاغذاوښکلي صحافت چاپ شو، په کتاب کې دعاليقدرامير المؤمنين (حفظه الله)پيغامونه ،دامارت اعلاميې ،دمحترم ملاعبدالغني «برادر» ،مولوي جلال الدين حقاني صاحب ،قاري محمد يوسف احمدي اوذبيح الله مجاهدخوراپه زړه پوري مرکې اوڅرګندوني اوډل شوي دي اوپه ټوليزه توګه په دغه کتاب کې ټولټال ۱۳۵عنوانونه راغلي دي.

داسلامي امارت دريځ (کتاب) په خپل ډول کې يوبېساری پرمختګ بلل کيږي ،ځکه تردې مخکې داسلامي امارت دموقفونو کومه ټولګه نه وه چاپ شوې ،بل داچې څېړونکو به داسلامي امارت اړوند معلومات له رسنيو اوژورناليستانو له راپورونو اويادښتونو څخه اخيستل چې ترډيره حده يوطرفه اوخيالي انګيرني وې نه ثقه معلومات

داسلامي امارت دريځ په لنډي سريزې پيليږي چې په لومړي اووروستي پاراګراف کې لولو:

ديويشتمي پيړۍ پيل چې نړيوال يې ډيالوګ ،بشري خواخوږي ،زغم اوتمدن دورګڼي ،برعکس پرافغان ملت دعصري وحشت اوماډرن جاهليت خونړۍ پيل ؤ. ديوولسم سپتمبر دپيښې په بهانه دغربي تهذيب اوتمدن سروالانو دامريکا په مشرتوب د۲۰۰۱ز ،داکتوبرپر۷مه نيټه پرافغانستان ناروااووحشيانه يرغل وکړ. په لسهاووزره افغانن يې شهيدان اوټپيان کړل ،کلي ،کورونه اوشنه باغونه يې ويجاړکړل ،پرودونو ،جنازو اوجرګو يې ټنونه بمونه اوکيمياوي (سپين پاسفورس او....)مواد استعمال کړل. پخواني کمونستې مسلکې قاتلان اوهغه دسپېڅلي جهاد بدنامونکې ټوپکسالاران يې چې

داشغال په وړاندي داسلامي امارت
دريځ
پيغامونه

((داسلامي امارت دريځ))

كتاب ته لنډه كتنه

میوند سادات

په دې وروستيو كې داففانستان اسلامي امارت دفرهنگي كميسيون له لوري ((داشغال په وړاندي داسلامي امارت دريځ)) په نوم كتاب پرښه سپين كاغذ او ښكلي صحافت چاپ شو، په كتاب كې دعاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) پيغامونه ،دامارت اعلاميې ،دمحترم ملاعبدالغني «برادر» ،مولوي جلال الدين حقاني صاحب ،قاري محمد يوسف احمدي او ذبيح الله مجاهد خورا په زړه پوري مركې او څرګندوني اوډل شوي دي او په ټوليزه توګه په دغه كتاب كې ټولټال ۱۳۵عنوانونه راغلي دي.

داسلامي امارت دريځ (كتاب) په خپل ډول كې يو ښساری پرمختګ بلل كيږي ،ځكه تردې مخكې داسلامي امارت دموقفونو كومه ټولګه نه وه چاپ شوې ،بل دا چې څېړونكو به داسلامي امارت اړوند معلومات له رسنيو او ژورناليستانو له راپورونو او يادښتونو څخه اخيستل چې تر ډيره حده يو طرفه او خيالي انګيرني وې نه ثقه معلومات

داسلامي امارت دريځ په لنډي سريزي پيليږي چې په لومړي او وروستي پاراګراف كې لولو:

ديويشتمي پيړۍ پيل چې نړيوال يې ډيالوګ ،بشري خواخوږي ،زغم او تمدن دوركني ،برعكس پر افغان ملت دعصري وحشت او ماډرن جاهليت خونړۍ پيل ؤ. ديوولسم سپټمبر دپېښې په بهانه دغربي تهذيب او تمدن سروالانو دامريكا په مشرتوب د۲۰۰۱ز ،داكتوبر پر۷مه نيټه پر افغانستان ناروا او وحشيانه يرغل وكړ. په لسهاوو زره افغانان يې شهيدان او ټپيان كړل ،كلي ،كورونه او شنه باغونه يې ويجاړ كړل ،پرودونو ،جنازو او جرګو يې ټنونه بمونه او كيمياوي (سپين پاسفورس او.....)مواد استعمال كړل. پخواني كمونستې مسلكې قاتلان او هغه دسپېڅلي جهاد بدنامونكې ټوپكسالاران يې چې

طالبانو شړلي وو یو ځل بیا پر افغان ولس وتپل. دمخدره موادو کر او قاچاق، دایډز ژونکي ناروغي، دمنسوخ او تحریف شوي نصرانیت تبلیغ، اداري او اخلاقي فساد، بې کارۍ، غلاوو، ماشوم تښتونو او..... پر افغان ولس خپل کرغېړن وزرونه وغوړل. له بلي خوا بیا همدې دډیموکراسۍ اتلانو په افغنستان کې دعقیدوي، فکري او عنعنوي انحراف لپاره په کور دننه او بهر په سوونو چاپي او برېښنایي رسنۍ فعالي او استخدام کړي دي چې شپه او ورځ په خپلو تبلیغاتو سره زموږ د ملي ویاړونو مسخه کول غواړي. په ملي اتلانو مولکه محمود غزنوي، میرویس نیکه، احمد شابابا، وزیر اکبر خان، محمد جن خان، ملامشک عالم، دهډې ملاصاحب، ایوب خان، ملالۍ، ناهید او پر لارویانو یې ملنډي وهي، د سومنات ماتیده، دپاني پت سوبه، د «لته بند» او میوند غزاګاني او بریاوي او دسرو وحشي لښکرو پر ضد دافغان ولس مبارزه هسي دوخت او انرژۍ ضیاع ګڼي. جهاد ترهګري، مجاهد ټروریست، خپلواکې دنړیوالتوب (ګلوبلایزیشن) له پرمختګ او استراحت ! ! څخه بغاوت او اسلامي نظام انتهه پسندي بولي، مګر دګمراکوونکو فلمونو ننداره، فحشاء او فساد دبیان دازادۍ، عصري توب، بیارغوني او پرمختګ تمرین ګڼي. دا ټول په داسي حال کې چې خپل ځانونه دبیان دازادۍ دفاع کونکي او دبشریت خواخوږي بولي او په نورو یې دتېري تورونه پوري کوي.

ستاسي په لاس کې کتاب (داسلامي امارت دریځ) به تر ډېره بریده دحقیقت پلټونکو سره دحقایقو په بیانولو او دوقایعو په څرګندولو کې مرسته وکړي، دتېري لسیزي دحقایقو په روښانولو سره به اغېزمن شوي افکار او تیاره اذهان تنویر کړي په تېره بیا افغان ځوان کهول ته به دخپل هیواد دسیاسي، جهادي، پوځي او ټولنیزو پېښو په اړه به داسلامي امارت دریځ او واقعیتونه روښانه او وړاندي کړي.

په کتاب کې تر سریزي وروسته د «ځوخبري» تر سرلیک لاندي دطالبانو داسلامي تحریک د پیل، چټک یون او دواکمنۍ پر مهال د پوځي، سیاسي، تعلیمي او ټولنیزو پېښو او په ټوله کې د کورنۍ تګلارې او بهرنۍ پالیسي اړوند ډېره ګټوره تحلیلي او معلوماتي مقاله راغلې ده، چې تردې مخکې په کوم کتاب او یا رسنۍ کې په همداسي موثق ډول داسلامي امارت په اړه څه نه دي وړاندي شوي.

فرهنګي کمیسیون تردې (داشغال په وړاندي داسلامي امرت دریځ) کتاب مخکې «په افغانستان کې زندانونه او ناویلي حقایق» په نوم کتاب چاپ او خپور کړ، په دغه کتاب کې دګوانتانامو وحشي زندان او په افغانستان کې دننه دبګرام، پل چرخي، کندهار عمومي او امریکایي محبس او نورو زندانونو اړوند اجمالي معلومات، دمجاهدینو له لوري پر له

پسې په څوولايتونوكې دزندانونوماتيدل، دعيني شاهدانومشاهدې اوڅرګندوني اودزندانونو ناوړه وضعيت په کې توضيح شوي دي .

فرهنګي کميسيون دبربښنايي مطبوعاتوپه برخه کې دالاماره په نوم ويبسايټ جوړکړی اودهغه دښمن چې دبيان ازادۍ شوراوځوږيې نړۍ پرسراخيستې دپرله پسې بريدونوسره سره همدايادہ شوې ويبپاڼه سمبالوي اوچلوي. الاماره ويبپاڼه په پښتو، دري، عربي، اردواوانګيزي ژبوبيلي بيلي څانګي لري اوپه هره يوه کې يې تازه تازه جهادي خبرونه، راپوړونه، تبصرې، علمي اوسياسي مقالې خپريږي، دغه رازداسلام په نوم پاڼه لري چې پربيلابيلوديني موضوعاتوليکنې په کې خپريږي اوپه ځانګړې توګه دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه دخلګوديني – فقهي پوښتنوته ځوابونه ورکوي.

دالاماره سمبالونکې ډاکټرطارق غزنيوال صاحب په ويناچې الاماره ويبپاڼه په مياشت کې ديرش لکه(۳۰۰۰،۰۰۰) ليدونکې اولوستونکې لري. دادليدونکوهغه شمېر دی چې ډيري رسنۍ دومره لوستونکې اوليدونکې نه شي موندلی

دغه رازفرهنګي کميسيون دچاپي رسنيوپه ډګرکې مورچل، څرک اوشهامت په پښتواودري ژبو، الصمودمياشتنۍ په عربي ژبه اوشريعت مياشتنۍ مجله په اردوژبه خپروي. په يادوشوومجلوکې سياسي، جهادي، علمي، تحقيقي اوادبي مضامين، دمجاهدينومرکې، دشهيدانوژوندليکونه اوپردښمن دمجاهدينودبريدونوخبرونه، راپوړونه اواحصائيې خپريږي.

همدارازدفرهنګي کميسيون دسمعي اوبصري څانګي په چوکاټ کې دالاماره، منع الجهاد، الهجرت او.....ستوډيوګانوله لوري دجهاد ي عملياتو، استشهادي، جبهې اوچريکې بريدونوژوندۍ صحنې خپريږي تردې مهاله يې ترپنځوس ډيري ويډيوګاني شايع کړي دي. ويډيوګاني اوچاپي مجلې ډيرزيات مينه وال لري اودځوان پښت په سالمه روزنه کې يې خوراپراخه ونډه لرلې ده.

داسلامي امارت دريځ (کتاب) په چاپ سره دفرهنګي کميسيون له لوري دچاپ شووکتابونوشمېردوولس (۱۲)عنوانه ته ورسيد ، شايقين کولای شي چې همداکتاب په بيلابيلوکتابپلورنځيوکې ترلاسه کړي، په دې هيله چې دريځ هرومرووړلولئ اونوروته يې دلوستلوترغيب ورکړئ اوالسلام.

نور ستا قضاوت

کمونست جنرال نړیوال ریکارډ خپل کړ !!

له هغې ورځې چې (جنرال رشید دوستم) د کابل د ګوډاګي اداري د پوځ د (درستیزوال) په توګه رسمي امتیاز اخلي، نږدې (لس کاله) تېرېږي، خو په دې یوه لسیزه کې یې یوه ورځ هم حاضري نه ده ورکړې او د غیرحاضرو ورځو شمېر یې (۳۶۲۰) ورځو ته رسېږي. دا د نړۍ په تاریخ کې د ناقانونۍ او غیرحاضرۍ یو بې ساری ریکارډ دی چې دوستم خپل کړی دی. جنرال دوستم د جنبش د ډلې مشر چې د ۱۹۹۰ زیږدیز کال په لومړیو کې په کابل کې په جنګي جنایاتو کې ښکېل دی او ګڼ بې ګناه افغانان یې وژلي دي . د طالبانو د حکومت وروسته د کابل د دفاع په وزارت کې مهمه پوځي څوکۍ ورکړل شوې ده. په همدې حال کې د چارو یو شمېر کارپوهان وايي، چې رشید دوستم نه یوازې خپلې دندې ته حضري نه ده ورکړې بلکه نوموړی په تېرو لسیزو کې په ډلې ییزه توګه افغانان وژلي دي. د سیاسي چارو شنونکې حسن ولسمل ژوندون راډیو ته په دې اړه وویل، ((چې دوستم یو ستر جنایتکار انسان دی او په تېرو لسیزو کې یې ګڼ شمېر افغانان وژلي، په مزار شریف کې څلورنیم زره طالبان ژوندي په کانټېنرونو کې سیند ته غورځولي دي. اوس مهال هم په افغانستان کې د کمزورې اداري شتون، دوستم ته ددې وخت ورکړی، چې په غیري قانوني توګه له خپلې دندې لوړ امتیازات ترلاسه کړي.

جنايتونه

سید سعید

دتېر ۲۰۱۲ ز، کال دوروستۍ (ډسمبر) میاشتي پر ۳مه نیټه د فراه ولایت دګلستان ولسوالۍ دغني مرغ په سیمه کې یرغلګروپه عملیتو کې څلورتنه ملکي هیوادوال بندیان کړي دي.

دډسمبرپر۵مه نېټه داشغالګروبې پلوټه الوتکود نورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ دبزګل کلي ته څېرمه نهه تنه ولسي هیواوال (۴تنه نارینه او۵تنې ښځي)چې په لاره پلي روان وو، په نښه کړي چې ټول شهیدان شوي دي. یاده شوې پیښه دنورستان ولایتي چارواکې هم مني ، خود جزئیاتو له ورکړې یې ډډه کوي.

دډسمبرپر ۵مه نیټه یرغلګرواوداخلي پوځیانود نیمروزولایت دخاشرود ولسوالۍ درباط عبدالخالق په سیمه کې دعملیاتوپروخت یوښځه زخمي کړې اوپنځه تنه ولسي وګړي بندین کړي دي

.

دډسمبرپر۷مه نیټه نیواکګروځواکونودنورستن ولایت په وانت وایګل ولسوالۍ کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي ، دغه پیښه اوپکې دملکې هیوادوالو تلفات دنورستان والي تمیم نورستاني هم تائید کړي دي.

دډسمبرپر۷مه نیټه اشغالګروعسکرودننګرهارولایتد خوګیاڼو ولسوالۍ په ترمي سیمه کې دچاپې پرمهال دوه تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي دي. دغه رازپرهمدغه نیټه یې ددغه ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په ستره ترمه سیمه کېږ خلګوکورنه تلاشي کړي ، مالي زیانونه یې ورته اړولي اوبیایې درې تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي اوګڼ نورکسان یې وهلي دي

دډسمبرپر۷مه نیټه یرغلګرود لوګرولایت دادوخیل کلي بندي یرغل کړی ، دتلاشۍ په وخت کې یې دکورونه څخه نغدي پیسې اوګېڼې وړي اوپه اخرکې یې دوه تنه ملکي هیوادوال بندیان کړیدي

د ډسمبر ۸مه نیټه نړیوالو رسنیو د امریکې چارواکو له خولې خبر ورکړ چې: دوه سوه (۲۰۰) افغان ماشومان په بګرام کې بندیان دي، خو د بشري حقونو د یوې فعالې ټینې په وینا چې د بګرام زندان کې یې د یاد شوي شمېر څخه ډېر زیات تور بندي ماشومان هم لېږدلي چې امریکایانو یې د نوم ثبتولو اجازه نه ورکوله.

د ډسمبر ۸مه نیټه اربکي ملېشو د تخار ولایت د فرخار ولسوالۍ د خسدي په کلي کې د ولسي وګړو پر کورونو یرغل کې خلګو ته مالي زیانونه اړولي او دوه ماشومان یې ټپیان کړي دي

د ډسمبر ۱۰مه نیټه اربکیانو د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ګرماوک د مشک کاریز په سیمه کې یو لس کلن ماشوم شهید کړی دی.

د ډسمبر ۱۰مه نیټه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د نوروزخېلو سیمه کې د داخلي او خارجي پوځیانو د قرارګاه څخه توغول شوې دهاوان مرمۍ پر یو کور راپرېوته چې له کبله یې څلور تنه ولسي وګړي ژوبل شول.

د ډسمبر ۱۲مه نیټه یرغلګرو د غزني ولایت مرکز اړوند قرباغي کلي کې د یو ولسي وګړي پر کور چاپه وهلې، د تلاشۍ پر مهال یې په یاد شوي کور کې څه پوځي توکي نه دي موندلي، خو د پلار په ګډون یې درې زامن چې ټول ملکي خلک وو اسیران کړي دي

د ډسمبر ۱۴مه نیټه داخلي عسکرو د زابل ولایت مرکز اړوند بیلا بیلو سیمو کې زیات شمېر ولسي وګړي د دیني عالمانو او سپین روږو په ګډون ډېر سخت وهلي دي چې له امله یې د څینو پوزې او د بدن نور غړي مات شوي دي، ژوبل کسان کندهار کې میرویس روغتون ته انتقال شوي دي.

د ډسمبر ۱۲مه نیټه اشغالګرو ځواکونو د کندهار ولایت د خاکریز او شاولیکوټ ولسوالیو ترمنځ د ګرې په سیمه کې د طالبانو سره ترښتې وروسته نهه تنه ولسي وګړي چې ۵ تنه یې په یو تراکتور کې سپاره وو او ۴ تنه یې له کورونو راایستلي او شهیدان کړي دي.

د ډسمبر ۲۰مه نیټه اربکي ملېشو د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په علم خیل سیمه کې ملا امام (مولوي صاحب غلام علي) پر کور چاپه وهلې، د تلاشي پر مهال یې نغدي پیسې او ګڼې غلا کړي او بیا یې نوموړي مولوي صاحب شهید کړی دی.

د ډسمبر ۲۱مه نیټه نیواکګرو عسکرو د ارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ د خوڼاوي په سیمه کې چاپه وهلې ده، درې تنه ولسي وګړي یې لومړی وهلي او بیا بندي کړي او وروسته یې د دغه کلي په مسجد کې استوګن یو طالب العلم شهید کړی او دوه تنه یې ژوبل کړي دي.

د ډسمبر ۲۴مه نیټه د سرپل ولایت د صید د ولسوالۍ په قره خوال سیمه کې د قومندان سیف الله اربکیانو یوه پیغله نجلۍ او مور یې په شهادت رسولي دي، خبرلیکې چې: یو اربکي له یو کلیوال (مومن

)ځخه دهغه دلورغوښتنه وکړه ، مومن دلورورکولوځخه انکروکړچې په غبرګون کې يې دېدشوي قوماندان اربکيانودنوموړي پرکورحمله وکړه اولوراومېرمن يې ورووژل .

دډسمبرپر۲۴مه نيټه نيواکګرود دکونړولايت دشيګل ولسوالۍ په موړي کلي کې د يرغل پرمهال دولسي خلګوکورونه تلاشي کړي ، مالي زيانونه يې ورته اړولي اوپنځه تنه يې دبنديانوپه توګه له ځان سره نامعلوم ځای ته وړي دي.

دډسمبرپر۲۵مه نيټه اشغالګرود هلمندولايت دنادعلي ولسوالۍ دباري ګل بازارپه سيمه کې دچاپې پرمهال درې تنه ملکې هيوادوال اسيرکړي دي.

دډسمبرپر۲۸مه نيټه اربکې ملېشودضابط شيرين په مشري دکاپيسا ولايت د تګاب ولسوالۍ دجويبارسيمه کې دملکې هيوادوالو(اغاګل، طوطی او امرالله)دکورونو دروازې په راکټ ويشتلې اوبيايې وکورونوته اوراچولی دی ، عيني شاهدانورسنيوته ويلي چې يادشو ي کسان ولسي وګړي دي اوتراوسه نه پوهېږي چې اربکيانويې په څه وجه کورونه سوځولي دي.دوی زياتوي چې دغواربکيانودولسوالۍ په بازارکې دخيالي ګل آکا په نوم يو ۷۰ کلن سپين ږيری داسي وهلی دی ، چې اوس دکوما په حالت کې په روغتون کې پروت دی.

دډسمبرپر۲۹مه نيټه اربکيانودنورستان ولايت دکمديش ولسوالۍ په ارمورو سيمه کې دوه تنه کليوال په نښه کړي يويې ځای پرځی شهيدشوی اوبل تن ژوبل شوی دی.

دډسمبرپر۳۰مه نيټه نيواکګرودميدان وردګ ولايت دسيداب دولسوالۍ دتنګي درې په ګلي خيل سيمه کې چاپه وهلې ، دخلګوکورونه يې تلاشي کړي اودوه تنه ولسي وګړي اسيرکړي دي.

دډسمبرپر۳مه نيټه اشغالګروځواکونوداروزګان ولايت دخاص روزګان ولسوالۍ دقلعه خورپه سيمه کې دچاپې پرمهال «يوسل اوپنځوس» تنه ملکې هيوادوال نيولي چې ۱۳۷تنه يې تروهلووروسته خوشي کړي او۱۳تنه يې ديوې مېرمنې په ګډون له ځان سره بنديان کړي دي.

دډسمبرپر ۳۱مه نيټه داخلي عسکرود پکتيکاولايت دجاني خيل ولسوالۍ دببوخيل اوخنجکوکليودېرش تنه اوسيدونکې بنديان کړي دي ، خبرکړې چې يادشوي کسان دولسوالۍ ځخه راغليوپوليسو داربکيزم پروسې ته دنه شامليدوپه جرم نيولي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډيو ، ازادي = ، افغان اسلامي اژانس ، پژواک ، روهي ويبپاڼه ، لراوبر= ، نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

حامد ....

شهیدې قافلې

د مجاهد کبیر شهید مولوی عبدالرب آخندزاده رحمة الله تعالی علیه لنډ ژوندلیک

شهید الحاج مولوی عبدالرب اخندزاده د مرحوم قاضي محمد زبیررحمه الله ځوی د استاد العلماء رکن جمعیة العلماءافغانستان (مولوی دین محمد آخنذاده رحمه الله) لمسی ، او د مور لطرفه د مرحوم نیکنام د ملا صاحب رحمه الله لمسی و او د مشهور جهادي او علمي شخصیت د پکتیا ولایت د شاه ي کوټ د جبهاتو معاون او عمومي قوماندان صاحب الکرامات فی الجهاد ولی الله شهید قاضی عبد الله گل رحمه الله کشر ورور وو، نوموړی په ۱۳۸۵هق \ ۱۹۶۵ز، کال د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د سهاکو د شملزو په سیمه کې زیږیدلی دی، ابتدا یې عصري زده کړې یې په کابل او نور دینی تعلیمات یې د هجرت په دیار(پیښور)کې په مختلفو مدارسو کې کړي دي، وړه دوره یې په مرحوم شیخ مولو ی محمد نعیم رحمه الله (مشهور په کو ڼ اخندزاده) (او د احادیثو دروه یې په ۱۴۱۴هق کال په دارالعلوم حقانیه(اکوړه خټک) کې ترسره کړې ده.

د شهیدمولوي عبدالرب رحمه الله جهاد او وظایف یې :

کله چې په ۱۳۷۳هش کال کې د طالبانو اسلامي تحریک دعالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهدحفظه الله په مشرۍ د اسلام ي نظام د قیام او د شر او فساد د ورکولو په خا طرپیل شو. شهیدمولوي عبدالرب رحمه الله د دغه سپېڅلي حرکت ملګري شو او ډیري نه ستړیکیدونکې هلې ځلې یې ترسره کړې، عبدالرب رحمه الله د خپل قائد(امیرالمؤمنین) سره د دوهم ځل ملاقات پرمهال په مختلفو دندو او خد متونو

وگمارل شو او د خپلو ملگرو سره دمیدان ښار محاذ ته ولاړ، او بیا له خپل خاص ملگرې شهید مولوی صاحب احسان الله احسان رحمه الله سره په خوست کی پاتې شو.

اخندزاده صاحب د شهید احسان الله احسان رحمه الله له خاصو ملگرو او مشورینو څخه وو او په اکثرو محاذونو کې ورسره ملگری و، کله چې به نوموړی نه ؤ؛ نو اخندزاده صاحب به یې د نائب په توگه وظیفه ترسره کوله، څه موده په چهار آسیاب کې له خپل مشر او گران ملگري حاجي معاون صیب (ملامحمد رباني اخند) سره پاتي شوی دی، شهید مولوي صاحب د جلا ل آباد په فتح او کابل کې له خپلو ملگرو سره یو ځای اوسیده خو کله چې اسلامي تحریک کابل په بشپړه توگه ونیو، شهید مولوی احسان الله احسان د افغانستان بانک رئیس او شهید عبدالرب رحمه الله یې معاون شو، دغه راز مولوی احسان الله احسان د کابل د لوي مسجد پل خشتي خطیب او شهید آخندزاده صاحب یې نائب او د پل خشتی د جومات امام تعین کړ، نوموړي د مسجد په تعمیر او پالنه کې ښه رول ترسره کړ، وروسته د مشرتابه په امر د قندهار د اطاق تجارت د مسئو ل په صفت وگمارل شو او د شمال ترفتح وروسته د سمت شمال د بنکونو مسؤل وټاکل شو او تر اخره پوري یې د شمال په مربوطاتو کې د اسلامي امارت په لیکو کې ډیر زیات خدمتونه وکړل.

پر افغانستان د امریکایې صلیبي یرغل وروسته شهید آخندزاده صاحب د اسلامي امارت د مشرتابه په هدایت یو وار بیا په جهاد لاس پوري کړ او شپه او ورځ یې د اسلامي امارت د مجاهدینو په نظم، جلب او جذب کې د پام وړ نقش ولوباوه، حتی د خپلې کورنۍ میراثي جائداد یې خرڅ کړ او د خپلو جهادي ملگرو، د اسیرانو د کورنیو او د یتیمانو او کونډو سره یې مرسته کوله، مرحوم مولوي صاحب د روان صلیبي تاړاک پرضد د پکتیکا ولایت څخه جهاد شروع کړ، د مشرتابه لخوا ورته د یاد شوي ولایت د پنځو ولسوالیو (گومل، سروبی، چهارباران، سرحوضه، اومنه) ولسوالیو مسؤلیت ورلغاړي ؤ.

علمیت او دیانت یې:

شهید مولوي صاحب تکړه او جید دیني عالم ؤ او د (تنبیه الوری عن الشریعة الغراء فی احکام اللحی) په نوم یې یو علمي کتاب لیکلی او نشر کړی ؤ، چې د ډیرو خلکو له تود هرکلي سره مخ شو.

شهید مولوی عبدالرب آخنذاده صاحب یو ه لویه علمي اوجهدي هستي وه ،د سخاوت ،ښایسته اخلاقو اوښکلې څهرې څښتن ؤ ،الله تعالی ورته ښه پوهه او تدبیر ورکړی ؤ ، د مولوي صاحب ټول عمر په علم ،تقوی ،جهاد ،خدمت او دیـنت کې تېرشوی دی.

شهیدمولوي صاحب ته الله تعالی خورا عالي سخاوت ورکړی ؤ ،نوموړي د الله تعالی له دین او مسلمانانو سره دهمکارۍ او نصرت ځانګړې جذبه او اراده درلوده.

ژوبلیده اوشهادت یې :

شهیدمولوي صاحب یو ځل په ګومل او بل ځل په رباط کې شدید زخمي شو، خوکله چې به الله تعالی روغ صحت ورکړ بیرته به د جهادګرمو سنګرونو ته ولاړ او د اسلام او هیواد د دښمنانو پر ضد به یې ویاړمنه مبارزه کوله

اتل شهید مولوی عبدالرب آخنذاده صاحب د سه شنبې په ورځ ۸- رجب ۱۴۳۱ هق \ ۱سرطان ۱۳۸۹ \ 22.6.2010. له صلیبي ځواکونو سره له کلک مقاومت وروسته د سرحوضې ولسوالۍ په مرکز (سره کوټ) کې د دښمن د سختو هوایې بریدونو له امله د شپږسو ملګرو په ګډون په شهادت و رسید ،انا لله و انا الیه راجعون.

د شهیدمولوي عبدالرب رحمه الله – شهیدجسد - خپلې اصلي سیمې پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ د سهاکو د شملزو کلی ته راوړل شواو په خپله پلرنۍ هدیره کې دخپلو نیکونو او د خپل مشر ورو ر شهید قاضی عبدالله ګل رحمه الله تر څنګ خاوروته وسپارل شو، الله تعالي دي ټولوته جنت الفردوس نصیب کړی او الله تعالي دي د ټولو شهداؤو شهادتونه قبول کړي او الله تعالی دي ددوی د وینو په برکت په افغانستان کی ژر تر ژره یو واقعي اسلامي نظام او امن و امان راولي امین !

اولادونه یې :

شهید مولوی صاحب متاهل وو، څلور زامن او دوې لوڼې لري.

الله تعالی دي د دوي متکفل الامور شی او الله تعالی دي د ټولو شه یدانو او مجاهدینو اولادونو او کورنۍ په خپل حفظ او امان کې وساتي

آمین یا رب العالمین

د قهرمان شهید مولوی صاحب محمد صدیق(طارق) ژوند لیک

شهید مولوی صاحب محمد صدیق (طارق) د خان زمان زوی او د عبدالرحمن لمسی وو، چې په کال ۱۳۵۷ ه ش کې یې د لوګر ولایت د څرخ ولسوالی دهمای کلي د ګداخیلو د قوم په یوه دینداره او غریبه کورنۍ کې دنیاته سترګې غړولې وې، نوموړی له قده میانه، غنم رنګی او د جالبې څیرې خاوند وو.

ابتدایي علوم یې د هجرت په دیار کې د هنګو سیمې په نعمانیه مدرسه کی ویلی وو، او عالی تحصیلات یی د کهی په سراج الاسلام مدرسه کی له شیخ الحدیث سمیع الله (راشد) صاحب څخه ترلاسه کړل، دوره حدیث یی بیا له شیخ الحدیث امان الله صاحب څخه ویلې وه، او سند یی هم په ممتازه درجه حاصل کړ.

له فراغت وروسته یی د لوګر ولایت په مختلفو مدارسو کی تر لوړو درجو کتابونه تدریس کړل.

نوموړی یو معتصم بالله، د ښو او زرینو اخلاقو خاوند، مبلغ، شاعر، مدرس، شجاع، باتجربه ځوان وو، د ملګرو په زړونو کی له خورا محبوبیت څخه برخمن وو، عوام او خواص له ده څخه تل خوشحاله وو، ډیر صله رحمه، د مور او پلار خادم، قرابت پاله او خادم انسان وو، د مجاهدینو د خدمت او په سنګر کی د استقامت او اخلاص یوه غوره نمونه وه...

نوموړي د اسلامي امارت په دوران کې د بیلا بیلو خدمتونو ترڅنګ د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ د عشروزکوة د مدیر په توګه دنده ترسره کوله، او پر هیواد له صلیبي یرغل څخه لږ مخکې بیا کونړ ته واستول سو هلته یې د ولسوال د معاون په توګه دنده پرمخ بیوله، خو چې کله صلیبي نیواکګرو پر هیواد ناروا یرغل وکړ؛ نوموړی بیا هم د سر په بیه حاضر وو خپلې سیمې ته ستون شو او د صلیبیانو په ضد یې وسلوال جهاد پیل کړ، چې په همدې ترڅ کې یو ځل په ۱۳۸۴ ه ش کال د ګوډاګیو عسکرو له خوا د برکی برک ولسوالۍ په دوشیخ سیمه کې چې صلیبی یرغلګرو ته یی کمین نیولی ؤ اسیر شو، له سختو شکنجو وروسته پل چرخی زندان ته یوووړل شو - دې د سنګر اتل د زندان سختې هم په پوره میړانه وزغملې، په زندان کې یې د قران کریم حفظ وکړ او د خپل بلاک د ټولو زندانیانو امام او مدرس وو، وروسته له ۲۲ میاشتو له زندان څخه راخلاص او په جهاد یی

بیا پیل وکړ چې د یوه نظامي ګروپ مشري یې په غاړه درلوده او ورسره په کال ۱۳۸۹ ه ش کې د ځرخ ولسوالۍ د نظامي کمیسیون ریس مقرر شو.

یو کال وروسته یعنی په کال ۱۳۹۰ ه ش د میزان په درېیمه نیټه د همای د کلي په غره کې د صلیبي یرغلګرو او د ګوډاګیانو له لوري یې پر مجاهدینو چ په ووهل سوه ، چې په ترځ کې یې د مولوي ګل محمد حقاني صیب په شمول درې کسان شهیدان شول، د شهیدانو د جسدونو د انتقال په مهال د ماین د انفجار له امله چې وحشي ځناورو صلیبیانو د شهیدانو له جسدونو سره ایښي وو ، نوموړی سخت ټپي او دوه پښې او یو لاس یې مات شول.

نوموړی امریکیانو ته زیات مطلوب ؤ او له زیاتې مودې را هیسې یې تعقیباوو ، بالآخره په کال ۱۳۹۱ ه ش د سرطان په اتمه له سختې جګړې وروسته چې سهر شروع او ۹ ساعته یې دوام وکړ چې په ترځ کې یې ګڼ شمیر امریکایان مردار او زخمیان شول ، د آبجوش په طرف روان شو د لارې په اوږدو کې د یرغلګرو جېټ الوتکو په نښه کړ او دوه توغندي یې ورباندې وتوغول ، وروسته د دښمن چورلکې راغلې او ګذارونه یې ورباندې وکړل او مولوی صاحب محمد صدیق رحمه الله هم د شهدت داعي ته لبیک ووا یه ، امریکیانو یې مبارک جسد له ځان سره یووړ ، په دې سبا یعني د جمعې په ورځ یې د قوم سپین ږیرو ته ورکړ او بیا د همای کلي په پلارنۍ هدیره کې خاوروته وسپارل شو . روح دې یې ښاد او یاد دې یې تل وي. ان لله وانا الیه راجعون

د شهید محمدصدیق رحمه الله ځخه یوه میرمن ، دوه زامن -احسان الله او شیرعلي او دوه وروڼه - محمدزمان او محمدنور- پاتې دي.

قهرمان شهید قادرخان

هرڅوک په عامه توګه خو پښتانه په خاصه توګه د نارینه اولاد په زېږېدو زیات خوشالیږي حاجی قاسم ګل هم دهغو له جملې ځخه و چې په دیارلس سوه پنځه دیرشم 1335 کال دخوست ولایت منګلوقوم موسی خېلو ولسوالی دځیري په کلي کې الله تعالی یو نارینه ماشوم دده په کورکې دنیاته راوړ حاجی قاسم ګل چې له ډېرې خوشالۍ دچاخبره په جامو کې نه ځاییده پخبل ماشوم او معصوم زوی یې بې له ځنډه (قادرخان) نوم کېښود ، تنکی قادرجان په دینداره کورنۍ کې دنیاته راغلی و نو اووه کلنۍ کې یې دخپلې منقطې په

ښوونځي کې ترشپږم ټولګی پورې زده کړه ترسره کړه، لکه څومره چې قادرخان سره دطالبی شوق وؤ دکورونیو مشکلاتو سره سم بیاهم قادرخان دمندوزیو په کلي کې دملا امام نه علمي کتابونه شروع او یوه حدته ورسول ، خو دتورې کرغېړنې کودتا په راتلو قادرخان هم غمجن اودجهاد اوریې په سینه کې په لمبوو زده کړې یې معطلې کړې اودروسی وحشیانو مقابلې لپاره میدان ته ودانګل چې د 1359 کال سره سمون لري په انفرادي شکل په وسلوال جهاد پیل وکړ ، دوخت په تېرېدو جهاد هم یومنظم شکل اختیارکړ د 1362 کال نه وروسته قادرخان دالحاج مولوي شهید عتیق الله سره یوځای شو کوم چې دمجاهدکبیر الحاج مولناجلال الدین "حقاني " حفظه الله ترقیادت لاندې نوماند قوماندان و ، دنوموړي له شهادت وروسته دهغه دوصیت او دحقاني صاحب په امر قادرخان ته دشمالي محاذ عمومي مسؤلیت ورپه غاړه شو ، ښاغلی قادرخان چې په حاجی قادرخان یې شهرت درلود په دې محاذکې ښه وځلېد هرسنګر یې دنورو مجاهدینو په څېر په شجاعت او مېړانه فتح اوترکابل یې ځان ورساوه.

دیادونې وړ ده چې پخپل منځي جنګونو کې یې برخه نه درلوده بلکې عادي ژوند یې اختیارکړ هرکله چې په افغنستان داسلامي امارت سپینې وړانګې خپرې شوې نوموړی هم ددې کاروان ملګری شو په پوره مېړانه او اخلاص یې خپل خدمت ته دوام ورکړ چې دبولدک، سروبي، پنجوایي په ولسوالیوکې دولسوال په حیث اودغه راز نورې دندې هم ترسره کړې.

په وروسته کې حاجی قادرخان علمي تلوسې دعلم ترمراکزو بیا ورساوه اوخپلې نیمګړې زده کړې یې پوره کړې په 1385 ل کال یې دپښتونخوا دچارسدې په اتمنزو کې وړه دوره وکړه دغه راز یې لویه دوره په تل عربیه دارالعلوم کې ترسره او له دیني مروجه علومو فارغ شو

له فراغت سمدستي وروسته یې دامریکایی یرغل په وړاندې خپل جهادته بیاادامه ورکړه ، په دې لاره کې یې نه هیرېدونکې کارنامې ترسره اوهیڅ راز قرباني ونه سپموله تردې چې په 9/5/1433 نېټه دشهادت لوړ مقام ته ورسیده.

روح یې ښاد یاد دې تل وي

دایمان شُعبې

مولوي عصمت الله عزام

عن ابې هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الايمان بضع وسبعون شعبة ف فضلها قول لااله الا الله وادناها اماطة الاذى عن الطريق والحياء شعبة من الايمان (متفق عليه)

له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دایمان څواویا څانګې دي ترټولو غوره (لویه) څانګه یې لااله الا الله اقرار کول دي اوترټولو ووړه شعبه یې له لاري دتکلیف ورکوونکې شي لري کول دي اوحیاء هم دایما ن یوه شُعبه ده (بخارې اومسلم)

تشریح: په دي حدیث شریف کې دایمان شُعبې څواویابلل شوې دي، خوپه بل روایت کې څوشپیته بلل شوې دي. ددې احادیثو تطبیق داسي دی چې کله کله هره یوه جلا شمارل شوې ده نوځکه زیاتي شي اوکله بعضي په بعضو کې داخلې کړې دیپه دې حدیث مبارک کې دایمان درې شُعبې بیان شوې دي چې یوه یې اعلی اولوړه ده چې هغه دلااله الا الله وینابله شُعبه ترټولو وړه ده: اماطة الاذى عن الطريق. یعني له لاري دداسي شي لري کول چې چاته تکلیف رسوي لکه ډبرې، ازغي، خښتي اوداسې نور... داکار که څه هم خلګوته ډیرمعمولي ښکاري، له همدې امله عمل کوونکې هم ورباندي کم دي، خولیکن دادایمان شُعبه ده اوباید عملي کړل شي.

نومطلب دادی چې په دي حد یث کې دا یمان درې شعبې بیان شوې چې یوه یې اعلی، بله یې متوسطه اوبله یې ادنی ده.

دایمان ټولي (۷۷) اوه اویاشُعبې په نوروا حادیثو کې ذکرشوي دي

په دي خبره هیڅ دعقل خاوند اختلاف اوشک نه لري چې په دُنیا اوآخرت کې فلاح اوکامیابی ته یوازې هغه څوک رسیدلی شې چې هغه په ځان کې دایمان اوصاف راوستلې وي اوځان یې په ایمان پوه کړی اودایمان ټولي شُعبې یې په عمل کې راوستې وي

نو هر مسلمان باید د ایمان شعبې زده او عمل ورباندې وکړي، ددې لپاره چې د دُنیا او آخرت نېکمرغي او سرلوړي مو په برخه شي. له دې امله مونږ دلته د ایمان ټولې هغه شعبې په لنډه ډول لیکو چې کومې د مختلفو احادیثو څخه علماؤ رااېستلې دي.

ځيني شُعبې د زړه سره تعلق لري، ځيني د ژبې سره او ځيني د بدن سره. همدارازځيني د ځان سره او ځيني د ټولني او عوامو سره. د زړه سره تعلق لرونکې شعبې:

دادېرش شعبې دي:

۱: پر الله تعالی ایمان: په دې کې د الله تعالی په ذات، صفاتو او توحید چې دده په څېر هیڅ شی نه دی، ایمان راوړل داخلېږي(په داسې عقیدي سره چې الله تعالی ددې عالم ساتونکی، پیدا کوونکی، إله او معبود دی. د الله تعالی سره په دې کې هیڅ ډول شریک او د برخې خاوند نشته، نه په پیدا کولو کې، نه په پالني او چلولو کې. الله پاک هرڅه اورې او په هرڅه خبر دی، د سینو په خبرو هم پوه دی، نه په زمکه کې یو شی ترې پټیدای شي او نه په اسمانو کې. الله تعالی د کمال، عزت، جلال، جمال، او د لویې په صفاتو سره متصف دی. الله تعالی اسماء حسنی(ښائسته نومان)لري. لوی لوی صفات لري. د الله پاک صفات د چا سره ورته والی او مشابهت نه لري لکه څنګه چې یې ذات د نوروذواتو سره مشابهت او ورته والی نه لري.مونږ د الله تعالی په ټولو نومانو او اوصافو ایمان لرو لکه څنګه چې الله تعالی د ځان لپاره بیان کړي دي او یا هم د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الله په هکله بیان کړي وي).

۲: په دې خبره ایمان لرل چې د امخلوقات ټول حادث او د الله تعالی مخلوق دي.

۳: په ملایکو ایمان راوړل.

۴: په ټولو اسماني کتابونو او صحیفو ایمان راوړل.

۵: د الله پاک په ټولو پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام ایمان راوړل.

۶: په دې خبره ایمان راوړل چې د خیر او شر تقدیر د الله لوري دی

۷: د قیامت په ورځ ایمان راوړل، په دې کې په قبر کې سوال، د قبر عذاب، پس له مرګه راژوندي کېدل، د الله حضور ته راغونډېدل، د بندګانو سره د حساب کېدل، د اعمالو د تللو لپاره ترازو او پل صراط د ټولو منل داخلېږي.

۸: په جنت او د جنت په همېشوالي ایمان راوړل.

۹: په دوزخ او د دوزخ په همېشوالي ایمان راوړل او په دې چې په جهنم فنانه راځي.

۱۰: محبة الله (د الله تعالی سره محبت کول)

۱۱: الحب في الله والبغض في الله:

خالص د الله پاک له امله د چا سره مینه کول او د الله پاک له امله د چا سره بُغض کول

په دې کې د مهاجرینو او انصارو تېولو صحابه کرامو رضی الله عنهم او د نبي علیه السلام د اهل سره محبت کول داخلېږي.

۱۲: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره (تر ټول هرڅه زیات) محبت کول.

په دې کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درودویل او د ده د سنتو تابعداري کول هم داخلېږي.

۱۳: اخلاص: په دې کې د ریاء (ځان ښودني) او منافقت پرېښودل هم داخلېږي.

۱۴: توبه او پښېمانتیب (په خپلو ګناهونو باندې)

۱۵: خوف (د الله پاک څخه د زړه وېره چې په ظاهر او باطن دواړو اثر وکړي)

۱۶: رجاء یعني د الله پاک د رحمت امید لرل.

۱۷ (له الله جل جلاله څخه) د نا اُمیدی پرېښودل.

۱۸: همېښه د الله پاک شکرونه کول.

۱۹: په وعده وفاداري کول.

۲۰: صبر کول.

۲۱: تواضع: یعني له زړه څخه عاجزي کول او ځان ترنورو کم بلل.

عاجزي یوازې دا نه ده چې په خوله سړی د عاجزی الفاظ ووایي.

په دې کې د مشرانو عزت او درناوی کول هم داخلېږي.

۲۲: (د الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو) رحمت او شفقت کول، په دې کې پر کشرانو شفقت او مهرباني هم داخله ده.

۲۳: په قضاء او تقدیر باندې راضي کېدل

۲۴: پر الله تعالی توکل کول.

(دیادوني وړه چې توکل دکارلپاره داسبابو دپرېږدولو په معنی نه دی بلکې اسباب استعمالول اونتیجه یې الله ته سپارل دي)

۲۵:ترک عجب:له خود پسندی، اوځان خوښوني څخه ځان ساتل.په دې کې دځان دستاینې اوپاکوالي بیانولو پرېښودل هم داخلېږي.

۲۶:ترک حسد:دحسداوکینې پرېښودل.

۲۷:د مسلمان سره له دښمنۍ کولو ځان ساتل.

۲۸:ترک غضب:یعني په دنیوي کارونوکې له غصې څخه ځان ساتل.

۲۹:ترک غش:له بدخواهی، اودوکوڅخه ځان ژغورل.

په دې کې له بدگمانی، اومکر(چم)څخه ځان ساتل هم داخلېږي.

۳۰:ددُنیادمحبت پرېښودل.   ددُنیاددوشیانوپرېښودلوته زُهدویل کېږي:دمال محبت اودمرتبې اواقتدارمحبت.

اوس هغه شُعبې لیکوکومې چې دژبې سره تعلق لري،هغه اوه شُعبې دي.

۳۱:په توحیدسره تلفظ کول(همدارازدنبي علیه السلام دپیغمبرۍ اقرارکول)

۳۲:دقرآن کریم تلاوت کول.

۳۳:ددیني علم تعلم اوزده کړه کول(ځکه علم هم نور(رڼا)ده،ایمان هم نوردی،دواړه سره لازم دي)

۳۴:تعلیم دین:یعني ددیني علم بل چاته وربښودل.

۳۵:دُعاء کول:(مؤمن به دالله تعالی څخه دخپلوحاجتونودحل لپاره دُعاګاني غواړي)

۳۶:دالله تعالی ذکرکول،په دې کې استغفارهم داخلېږي.

۳۷:اجتناب لغو:له عبث اوبې فائدې خبروڅخه ځان ژغورل.

دااوه شُعبې دژبې سره تعلق لري،اوس هغه شُعبې دبدن دنورواندامونوسره اړیکه لري،هغه ټولې څلوېښت دي،چې شپاړس یې دبنده دذات سره تعلق لري،شپږیې دبنده د   کورنۍ، اولاداوخادمانوسره تعلق لري اوپاته اتلس شُعبې دعامومسلمانانوسره تعلق لري:

د بدن سره تعلق لرونکې ایماني شعبې

۳۸:طهارت:پاکوالی:په دې کې دبدن،جامو،ځای ټول طهارتونه داخلېږي.

اودبدن په پاکوالي کې له بې اودسۍ څخه اودس کول، له جنابت، حیض اونفاس څخه غسل کول(اوتیمم داوبودنشتوالي په وخت کې کول) داخلېږي.

(همدارازباطني اوظاهري دواړه صفايئ ضروري دي).

۳۹:اقامة الصلاة:دلمانځه پابندي کول:په دې کې فرض اونفل دواړه داخلېږي. همدارازدقضايي لمونځونواداءکول هم داخلېږي.

۴۰:دزکات اداءکول:په دې کې(نفلي)صدقه اوخيرات هم داخلېږي، په دې سرسايه هم داخله ده، په دې باب کې سخاوت، ډوډۍ ورکول(مسلمان ته) اودميلمه اکرام اوعزت کول هم داخلېږي.

۴۱:روژه:که فرضي وي اوکه نفلي.

۴۲:حج، په دې کې عُمره کول هم داخلېږي.

۴۳:اعتکاف کول:په دې کې دليلة القدرلټون هم داخلېږي.

۴۴:الفراربالدين من الفتن:دخپل دين دساتلولپاره دفتنوله ځايه تښته کول، په دې کې دشرک له ټاټوبي څخه هجرت کول هم داخلېږي.

۴۵:دنذرونوپوره کول اوورته پام کول.

۴۶:دقسم په اړه فکر، له بې ځايه قسمونوځان ساتل

۴۷:دکفارې اداکول(که هرډول کفاره وي)

۴۸:په لمانځه کې دننه اودباندې دعورت پټول.

۴۹:قرباني:اخترې کول(همدارازنذري حيوان حلالول)

۵۰:القيام بامرالجنائز:دجنازودکارپابندي کول يعني

دمړه مسلمان تجهيز، تکفين، تدفين اودجنزې لمونځ کول.

۵۱:اداءالدين:دقرضونواداکول.

۵۲:الصدق في المعاملات(په معاملواوکارونوکې صداقت اورښتينولي اوله ځان ښودني ځان ساتل)

۵۳:دحق خبرې شاهدي ورکول اودکوم دُنيوي يانفساني مصلحت له امله يې)له پټولو ځان ساتل. داشپږس شُعبې دانسان دذات سره تعلق لري.

اوس هغه شُعبې چې دکورنۍ دنوروافرادواوخادمانوسره تعلق لري: هغه شپږدي.

دکورنۍ سره تعلق لرونکي ایماني شعبې

۵۴:التعفف بالنکاح :په نکاح سره ځان پاک لمنه کول(چې ځان له ګناه او بد نظرۍ څخه وژغوري)

۵۵:د اهل او عیال حقوق پوره کول او په دې کې د خادمانو سره نرمي کول هم داخلېږي

۵۶:د مور او پلار سره نیکي کول او له نافرمانۍ څخه يې ځان ساتل.

۵۷:د اولاد(د شریعت مطابق)تربیت او روزنه کول.

۵۸:صلهٔ رحمي کول:د خپلوانو سره ښه ګوزاره او نېکي کول.

۵۹:د بادارانو تابعداري کول(دا حکم د غلام لپاره خاص دی، همدا راز د غلامانو سره نیکي کول څکه د مؤمن صفت دادی چې که بادار وي، په غلامانو به مهرباني کوي او که غلام وي، د سردار تابعداري به کوي).

اوس هغه شُعبې چې د عامو خلګو سره تعلق لري، د دغو تعداد اتلس دی: دعامو خلکو
سره تعلق لرونکي ایماني شعبې

۶۰:د حکومت او امارت په حالت کې عدل او انصاف کول(همدا راز په دې کې دا هم داخلېږي چې هرڅوک به په هر کار کې له عدل او انصاف څخه کار اخلي)

۶۱:د مسلمانو د جمعت او ډلې تابعداري کول :یعني د صحابه کرامو رضی الله عنهم د جماعت چې کومه طریقه وه، پر هغې روانېدل.

۶۲:د أولوا الامر د واکمنو مشرانو تابعداري کول(په دې شرط چې د دوی خبره د شریعت مخالفه نه وي)

۶۳:د خلګو ترمنځ اصلاح او جوړجاړی کول(کله چې یې ترمنځ اختلاف او جګړه پیدا شي)
په دې کې د اسلامي دولت د باغیانو سره جنګ کول هم داخلېږي.

۶۴:د خیر او نېکۍ په کار کې اعانت او مرسته کول.

۶۵:امر بالمعروف او نهی عن المنکر(د ښو کارو امر او له بدو څخه منع د خپل وس مطابق کول.

۶۶:د شرعي حدودو قائمول.

۶۷: د الله په لار کې جهاد کول په دې کې د الله عزوجل په لار کې پیره کول هم داخلېږي.

۶۸:د امانت(خپل خاوند ته)اداکول په دې کې د خُمس(او نورو شرعي حقونو)اداء کول هم داخلېږي

۶۹: حاجت مند ته قرض ورکول او د قرض اداء کول.

۷۰: د ګاونډي عزت او درناوی کول (او ښه ژوندون ورسره تیرول)

۷۱: حُسن المعاملة: معامله او کاروبار په سمه توګه سرته رسول په دې کې دا هم داخلیږي چې مال به له حلال مال څخه راغونډوي

۷۲: مال په خپل محل او موقع استعمالول په دې له بې ځایه لګښتونو او اسراف څخه ځان ژغورل هم داخلیږي

۷۳: د سلام جواب ورکول.

۷۴: د عاطس (د پرنجیدونکي) ځواب ورکول (یعني که پرېجېدونکی (نږونکی) الحمد لله ووایي، نو په ځواب کې ورته یَرحَمَکَ الله ویل).

۷۵: له خلکو څخه د تکلیف بندول.

۷۶: له لهو لعب (له داسي بې فائدې کارونو چې نه دیني فائده لري او نه دُنیوي) څخه ځان ساتل.

۷۷: له لاري څخه د د تکلیف ورکونکې شي لري کول (لکه ازغي، ډبري او نور تکلیف ورکوونکې شیان له لاري څخه یو طرف ته کول).

داټولي اوه اویا شُعبې شوې چې د بخاري په شرح عُمدة القاري ص: ۲۱۲ ج۱) کې ذکرشوې دي

که د دغو شُعبو تفصیل څوک غواړي نو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرفعلی تهانوي رحمه الله کتاب فروع الایمان ته دي مراجعه وکړي

د غه شُعبې چې په څومره اندازه په مسلمان کې موجودي وي هغومره به د کامل ایمان خاوندوي، که په چاکې ټولي راغلي نو دا کامل مؤمن دی که په چاکې بالکل ن ه وي نو دا پوره بدبخت دی.

الله پاک دي موږټولو ته توفیق راکړي چې دا شعبې په ځان کې عملي کړو.

آمین یارب العالمین

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین

خاطره

ابومعاویه

ماولې دامریکایانو ترجماني پرېښوده؟؟؟

دادیوه ژباړن خبرې دی چې دامریکایانو سره یې شپه اوورځ کارکاوه، اواوس ىې داکارپرې ایښی دی، اودخپل ژوندیوه خاطره ىې له موږسره پرانټرنیټ باند ې شریکه کړه، پردې خاطرې نوموړې پخپله (ماول ې دامریکایانوچوپړپرېښود؟؟) نوم ایښی دی دده داخاطره ډیره بوږنو ونکې، زړه ښوررونکې، دغم په څپولړلې، له وینونه ډکه اودافسوس په څپوکې ده، دده داخاطره ډیره اوږده ده چې ان یوکتاب کې ورڅخه جوړیږی خوماچاڼ کړ ي اودده په قلم لیکل شوي خاطره همداسی ده:

زمامستعارنوم مومندافغان دی، زه دمرجې دولسوالۍ اوسیدونکی یم، چې اوس مې استوګنه په کندهارکې ده، زه دخپلې پیژندنې په اړه ډیره څه په دې نه لیکم چې کیدای ش ي زمادالیکنه زمااوزمادکورنۍ لپاره ب ې عزتي، وهل ټکول اوحتی دمرګ وکند ې ته موږغورځوي نوځکه دډیرتعارف څخه معذورت غواړم

زه هم دډیروساده لوحو اوغولیدلوافغانانوپه شان په جال کې راګیرشوم، دوی به راته ویل چې امریکایان دد ې لپاره زموږګران اسلامي هیوادته راغل ی دي چې موږابادوی، زموږستون زی کمو ي، اوهیوادتعمېروی، سوکاله ژوندموږته رابښی اومطلب داچې افغانستان په نظامي، سیاسي، اقتصادي اوعلمي لحاظ پخپلوپښودرو ي اوداسې وخت به هم راشي چې افغانستان به دنړ ی دطاقتوروهیوادونوپه لړکې وی، خوداهرڅه برعکس د ي، اودهرشعارپه مقابل کې امریکایان معکوس عمل کو ي، دبیلګې په ډول سره دابادۍ پرځای ویجاړې، داقتصادي ځواکمنتیاپرځای خوارځواکي ، فقراولوږه، دتعلیم پرځای جهل، غربی کلتور، فحشاء اونورناوړه دودونه، دناموس دساتنې پرځای دافغاني میرمنوبی عفته کول، په

زوره له کوره تښتول، په ښارونوکې شراب عامول، اونورفاسد کارونه چې په اصل کې دافغانۍ ارزښتونولپاره سپکاوی اوداسلام دمبارک دین توهین دی داددوی شعاردی.

زه دکندهارپه هوای ي ډگرکې دژباړن په حیث مقررشوم، چې څه موده وروسته ونوروقواړگاو (Bases) ته ولیږل شوم، دهوایي میدانه څخه دوتوپرمهال م ي له ځانه سره وویل چې کیدی ش ي اوس دې اجل درسره غاړی په غاړ ی شي. اوډژونددانبکلی حالت د ي دغمونو په تنوربدل شي ، کله چې به ګزمه، چاپه اویاکوم بریدونه کیدل نو زه به ورسره وم دامې کوتلی اوزړه ته یومنلی احساس ؤچې زه به ناخوالې، دبې وزلوربړونه، دښځوبې عفته کول، دماشومانوحلالول اوهرڅه پخپلوسترګووینم، چې داهغه سترې ولولې وې چې هره شیبه به ماحس کولې، زمادبدن په هره حجره ک ې دمیړې اولوریږې منګی مات ؤاوپه دې ناورین ک ې زمافکراوشعورهم ورسره ملګوه داځکه چې امریکایانو یاکاناډایانو چې به کله چاپه وهل اویابه ئې عملیات کول نونوروترجمانانوبه راته دناورین نه ډکې خ طری بیانولې.

که داهرڅه بېیوه تکی کې راغونډکړم نویوه لورته ډالردي چې هیڅ ځای نه موندل کیږی وبل لورته روحي فشار، دستونځوسیلاب اومرګ دی چې زه اوس دپاڼ اوپړانګ په مابین کې یم، خودایوحقیقت دی چې کله وحشت، دهشت، بربریت، ظلم، تشدد، ستم اوحیوانیت راشي نوبیادانسان نفیس نفس ترپیسو، جایداد، ډالرو، وظیفی، امتیاز اوهرڅه تیریږی که ئې وجدان په سلوک ې ۵۰ کارکاوه : دازماهغه ستونځ ې وې چې کله زه دکندهاردهوای ي میدان څخه دژړی وکرارګاه ته ولاړمه دلته ژوند په ارامه نه وپه ډیروچاپو، ګزمواوجنګونوک ې زه شاهدوم، اوهرڅه مې لیدلي دي، خوزه اوس هغه خ طره بیانوم چې دهمدې ناورین له کبله زه دامریکایانوترډالروتیرشوم اوهغه ډالرم ې وسوځل ، تروظیف ې تیرشوم، اوددو ئ لوغړن چوپړته مې دپای تکی کښیښود.

یوه ورځ پنځه ټانکونه چې زه ې ې په لومړی ټانګ ک ې وم دژړی په دښتوکې په ګزمه ووتلو ، چې دیوه نیم ساعت وروسته یعنې ماسپښین ته نژد ې وخت زموږڅخه په ښه واټن ک ې یوغټ ږغ واوریدل شو اودوړې یې موږلیدلې نوپه څه نه یوخبر، چې مشروویل چې درځئ چې ګزمه ختمه کړو اوکېدای شي دادطالبانوماین وی، اوکېدای شي چې وروسته پرموږبرید پیل شي، دمرکزسره مواړیکې تینګې کړي هغه راته وویل چې ستاسوڅخه په لس کېلومتر ی کې یوټانګ په دښته کې دماین ښکارشو ، چې دانوبله ګزمه ده، چې دکورونوڅخه هم ډیره لیری وه، وموږته هدایت وشوچې هلته دمرست ې لپاره په احتیاط سره ورش ئ، کله چې ورنژد ې شونوترډیری لیرې پورې دټانګ ټوټې پرتې دي. هغه ماین زموږدتیم له لور ې معاینه شوهغه

ښخ شوي ماین واوریموټ کنترول هم نه وه، اوټانګ په مکمل ډول سره تباه شوی اوټوټې شوی ؤ اوڅلورسره امریکایان پکښې وژل شو ي وه، په کوم ټانګ کې چې زه وم په هغه کې کمپیوټر ي مخابره، دط ېاروسره دتماس نیولوسیستم، اویوورړوک ی کمپیوټروچې امریک یانوبه دمشکوکو کسانودسترګود کسږ اوګوتوانځورونه ثبتول چې دهغه ټریننګ ماهم کړی ؤپه هغه کوچنی کمپیوټربه موږپه قوارګاوکې دکارډونولپ ره هم استعمالاوه،ودې کمپیوټرته دوئ سیک ټو (Seek2) وایې داکمپیوټردلومړ ي ځل لپاره دشیخ شهیداسامه بن لادن دموندلوپه موخه FBI جوړکړ، چې اوس هم داد FBI له لوری په قرارداد باند ې جوړیږي، اوهغه څوک چې ددوئ سره کارکول غواړ ې نودوی ټریننګ هم ورکوی، دایومعین کوډلري، چې وهغه چاته ئې کوډجوت و ي چې داستعمال حق ئې لری، زه ېې دهغه ټانګ څخه وبل ټانګ ته بدل کړم،خومایوامریکای ي ملګری درلو دی چې هغه به وماته هرڅه ویل، امروشوچې تاسو په هره فاصله کې چې یوڅوک وین ئ هغه له منځه یوس ئ، که ولاړو ي اوکه ناست و ي، زموږدګزم ې مشرورته وویل چې هیڅوک نشته اوداډښته اوصحراده، بیاراته وویل شول چې دمړولپاره امبولانسې چورلکه درلیږل شویده اوتاسو چې هرڅه کوئ هغه ترسره کړئ، درته اجازه ده، اوخپل رسمیت په دروساعتونوکې ختم کړ ئ، په ډیرسرعت اووحشت سره دپیښې وځایته راغلو رنګ پاشل شوی و ، داحتیاط امرراته وشوترڅوبله واقعه پیښه نشې. مړی پورته شول اودهغې ګزم ې څلوربلنګونه هم زموږسره یوځای شول، دهریوه سترګې سرې، څوک ژاړې، څوک ښکنځل کوي اوڅوک لکه لیونیان وهرلورته ټکان کوي، په دغه ورځ وبیریدم چې کېدای تاوولې، زه اوهغه بل ژباړن چې په جاوید سره ېې ږغ کوه په لومړي ټانګ کې کښیناستوچې هرڅه پکښې وه، اوپروطن رارهی شووټولوته داس ې امروشوچې تلاښې وکړې اوهرڅه چې په مخ درځې دهغودویشتلوامرهم درته شته اوتاسئ هم نورڅه هم کولاشئ، مشرنیم بوتل شراب وڅښل اوصلیب ېې راواخیستی مچ یې کړ ، خپل بایبل ېې راواخیست اوپرځیګرېې ونیو اوقسم ېې وخوړ چې داکسان به اخلم داځکه چې ویل یې صلیبه اوای بایبله ستالپاره قربانې شول اوته به ېې شفاعت کوي، دده داخبره مې تراوسه به غوږوکه ده:

Where is the son of God, Jesus Christ?

دتګ په حالت کې یوڅوکوره په مخه راغله چې ټولوته دتیارسۍ امروشواوپه منډه منډه دحیواناتوپه شان ورغلوزه یوه لورته اوهغه بل ژباړن دبلې ډلې سره ورغی اوپه سپیکرکې ېې اعلان وکړچې هیڅوک ونه ښور ې، اوس نوامریک یان په هرکورکې ننوځ ي، څه ډزې، منډ ې ترړې، چغار ې اوبغار ې اورم خوپه یقینی ډول سره دانه ده راته معلومه چې څه کېږ ې ؟هغه

کورته چې زه او مشرور غلو هلته یوه بوډ ی او یوه ځوانه ښځه ده زمونږ په دخول سره ژړا ګانې پورته شوي هغې بوډۍ ښځې هغه ځوانه پیغله ترلاس تینګه نیولې ده، دې شراب ي مشر هغه پیغلې ته ور وځغاستل او ترلاس یې ونیوله لومړی یې تلاښی کړله او بیا یې په زوره کش کړه، هغې بوډۍ یې یوه لغته ووهله او هغه هلته پریوتل ه او ځوانه پښتنه افغانه یې زما په مخکې راکش کړه او جنسي تیری یې ورباندی وکړ، په دغه وخت کې سترګو او عقل کړپریښود، او قسم په هغه خدای چې زه یې پیدا کړی یم که م ې په هیڅ سر خلاصید ه، چې زه چېری یم، چېرې ځم، او څه کوم او له چا سره یم؛ زه نو دلته د سرپه وینښتیانو زېږم او داسی فکر کوم چې حشرګاه ده؛ او وروسته ئې پر غولی په بی سترۍ سره دا پیغله شهیده کړه، د صلیب نښان یې په ډزو سره دهغې شهیدې خور پر مبارک جسد باندی جوړ کړ، دا هر څه عکاس ي کېږ ې هم، نورو حشي امریکایان راغلل او صندوقونه یې مات کړل او هرڅه شروع دی ټول کلی د ناورین پرتغر ناست دی، دا چې نورو وحشیانو به څه کړي وي، دا هم جوته ده چې هرڅه به ئې کړي وي له ځانه سره مې ډیر وژړل او ومې ویل ای لویه خدایه!!! کوم عزت د ې چې ودې پښتنې افغانې پیغلې ته ورکړ او د جنتو سرداره دې کړه دادې څومره ښه ورسره وکړه، مرګ خو هم هغسې راځي ، ژاړم، او سوک سوک مې دی، زما دا افسوس او ژړا وحشي امریکایانو وا وریده هغو راته وویل چې ولې ژړا او افسوس کوي ما ورته د بیرې له کبله ورته وویل چې هغه څلور امریکایان چې مړه شول پر هغو ژاړم.

دهمد ې پیښې په لیدو سره م ې هوډ وکړ چې فقر به کوم او بیا به د دې ځناورسره کار نه کوم، او نه به وچا ته مشوره ورکړم چې دد ې وحشي ځناورو سره کار وکړي، دا ځکه چې د دې معصوم ې پیغلې څه ګناه وه؟ دد ې کلې خلکو څه کړی وه؟ ول ې یې دا ټول کلی په وینو کې ولمباوه؟ که په هغه ورځ زما سره وسله وای نو ما به هم دهغې پیغلې سره یو ځای د شهادت جام نوش کړی وای، دا مسلمه خبره ده چې ژبارن ته کومه سلاح نه ورکو ی، دیوه ساعت وروسته قرارګاه ته ولاړو، مورا جازه نه درلوده چې له چا څخه پوښتنه وکړو چې څه موو کړل؟؟؟ کله چې قرارګاه ته ورسیدو نو خپل امریکایي ملګرې ته مې وویل چې اوس عکاسي را ښکاره کړه، هغه د بربریت عکاسي زما احساسات نور زخم ي کړل او زړه م ې نورو پړسید ه څه انځورونه م ې ورڅخه بلوتوت کړل

په دې ویډیو ګانو کې یوه ویډیو داس ې وه چې له ۵ نورو ښځو سره بې عفتي شو ي وه، او بیا وروسته شهیدانې شوي وي، دیوې ښځې سر یې په چاړه پریکړ، او دهغې کور 7 ماشومان ی ې په ډزو وویشتل او بیا ی ې پر مورورو غور ځول او دا اور لمبه یې کړل، دهمد غه

ماشومانو د پلار غابنونه يې پرمخ دو سلو په وهلو سره وکښل او خوله يې دوينو څخه وړه که کړ ه ،چې وروسته يې وديوال ته ودراوه بې عفته يې کړ او د شاله لوری يې شهيد کړ، چې هرڅه م ې پرې اړول هغه ټول ځورونکې وه، که ديوه افغان سره د اسلاميته ماسوا صرف ۱۲ سلنه افغانيت ورسره وی لا به هم داسې کړنې ونه زغمي، او ضرور به عکس العمل ښيي ، زه داسې کسانو ته حيران يم چې داسې هرڅه د سر په سترګو وينې خو بيا هم له دوی سره ديو ځو ډالرو لپاره ولاړ د ي او د سپو په شان ئې چوپړ کوي، زه داسې کسان بې ضميره، بې دينه، غير افغانان، بې شعوره، بې علمه او ناپوه بولم

هو !!! اوس به څنګه له امريکايانو څخه خلاصيږم؟؟؟

دا ځکه چې دوئ هروخت ومونږ ته اجازه نه راکوله، کله چې به مو تنخوا واخيستله او يا کله به له کوره څخه تليفون وشو ،نو يوه ورځ به رخصت راکول شو، او ډير به ترڅارنې لاندې وو او بل داچې په قوارګاه کې زمونږ شتون اړين وو، له د ې شرميدلو او ناوړو او د سرو وينو ډک و عملي تو څخه يوه ورځ تيره شوه او په دغه ورځ مې پرځن لعنت ووايه او له خدايه م ې خواست وکړچې ياموقعه راکړ ې چې غازی شم او بيا شهيد شم او يا له د ې ځايه نجات راکړ ي، نو په ماسپښين کې م ې ومشرته وويل چې زمامورن روغه ده که اجازه راکړي چې ولاړ شم او هغه په چيناې شفاخانه کې بستره، د تنخوا م ې دوې ورځې پاتې وی، راته يې وويل چې نن نه سبا به ولاړ شې تنخوا به د ې هم درکړو او مازيګر ته به ضرور راځ ي، ماورته وويل ښه د ه؛ سبا شو. دا دغمونو نه ډکه شپه هم تيره شوه، دهغې پيغلې نارې او غلبلې م ې په غوږونو کې وې سبا شو، پر ۱۱ بجې يې دورځ ې تنخواهم راکړه او له قوارګاه څخه راووتلم، ښارته په رارسيد و م ې دشکر دوه رکعته لمونځ وکړ، او هغه ډالر چې يې راکړی وه، هغه مې وسوځول، او ورته و م ې ويل چې ای ډالرو تاسو زه بې غيرته کړی وم، تاسو زمونږ ناموس ترپښو لاند ې کړ، تاسو مونږ بې عفته او بې عزته کړو او له مونږ څخه مو ترل ې حيوانا ت جوړ کړل ،نو لعنت پر تاسو او پر ايروم ې او به وشيندلې؛ کله چې وکورته راغلم نو هغه کورمو په هغه ورځ پريښود دا ځکه چې هغه په کرايه ؤ، سيم کاټ م ې مات کړ، بريښناليک م ې بدل کړ، ږيره م ې پريښوده له او لوی خدای جل جلاله له لعنته خلاص کړم، اوس م ې ټينګ هوډ کړيد ی چې هغه کړنې چې ما په سترګو ليدل ې دی هغه به افشاء کوم، ټول اسناد له ما سره دي، انځورونه هم زما سره شتون لری، او ويډيو ګانې هم زما سره شته، دژوند يو ارمان م ې دادی چې دهغې پښتنې پيغلې کسات واخلم ي غازی شم او يا هم شهيد شم

لا إله إلا الله محمد رسول الله

دعوت او ارشاد

دافغانستان اسلامی امارت د دعوت اوارشاد او جلب و جذب کمیسون میاشتنۍ راپور

دافغانستان اسلامي امارت ددعوت اوارشاد ، جلب اوجذب کميسيون په هانداو هڅود هيوادپه بيلابيلوبرخوکې دتيرومياشتوپه څېرپه ډسمبرکې هم دکبل دګوډاګي رژيم داردو، پوليسواواربکېنوله ليکوڅخه په لسهاووتنه قوماندانان اوافرادراجلاشوي اود اسلامي امارت په اسلامي اوملي جهادي صف کې شامل شوي دي ،تفصيل يې په لاندي کرښوکې لوستلای شئ.

ددتېر(۲۰۱۲)ز،کال دډسمبرپر ۲مه نيټه دفارياب ولايت دپښتون کوټ ولسوال ۍکې دجرقلعه کلي ۲تنه عسکرداسلامي امارت سره يوځای شول.

دډسمبر پر ۳مه نيټه يې دهرات ولايت دانجل ولسوالۍ دخوشباشان په کلي کې ۱تن اودسرپل ولايت دشرم ولسوال ۍ۲تنه دګوډاګي اداري څخه راجلااوداسلامي امارت سره يوځای شول. دډسمبرپر ۴مه نيټه دسرپل ولايت دصياد ولسوالۍ داختاش د کلي اودبلن غوردکلي ۲تنه دمجاهدينوسره يوځای شول.

دډسمبر پر ۵مه نيټه د سرپل ولايت دشرم ولسوالۍ ۳تنه ، . دکوهستاناتو ولسوالۍ ۱تن ، او دهلمندولايت دجلب جذب نائب مسؤل دراپورپه اساس په تيره اوروانه مياشت کې [۳۷]نفره له (۳۷)ميله سلاح سريوځای د دغه ولايت دسرک په کښته ولسواليوکې داسلامي امارت سره ملګري شوي دي.

دډسمبرپر ۷مه نيټه هلمندولايت دسرک دلوړی خوا سيموکې په روانه مياشت کې دسنګين ولسوالۍ (۱۲)نفره اودواشيرولسوالۍ کې يوکس له مجاهدينوسره ملګري شول.

دډسمبرپر ۹مه نیته دکندهارولایت دپنجوایي ولسوالی دزنګاوات دکل ي۱تن، دارغستان ولسوالۍ ۲ نفره اودخاکریزولسوال ی دچناردکلي ۱۵نفر ه داسلامي امرت له لیکوسره یوځای شول.

دډسمبرپر ۱۰مه نیته دغزنی ولایت داندړوولسوال ی په بیلابیلوکلیوکې ۵تنه اودارنګه په همد ې ولسوالی کې ۷تنه پولس چې ۲نفره دلغم ن ولایت دعلی‌نګارولسو الۍ اوسیدونکي وو له فاسدی اداری را بیل اوداسلامي امارت سره ملګري شول.

دډسمبرپر ۱۱مه نیته ددایکندی ولایت دګزاب ولسوالی دخلچ دکل ي ۱تن ،پر ۱۳مه یې داروزګان ولایت دچنارتوپه سیمه کې ۲تنه داردوعسکردتخاراوفاریاب اوسیدونکي له مجاهدینوسره یوځای شو ل. دډسمبرپر ۱۴مه نیته داروزګان ولایت ددهراود ولسوال ۍ دکو ثرپه کلي کې ۵تنه عسکردمجاهدینوسره ملګري شول.

دډسمبرپر ۱۵مه نیته دغورولایت څخه ددعوت اوارشاداستازي خبرراکوي چې: په تیره اوروانه میاشت کې [۲۵]نفره داردواوپولیسوله لیکوراجلاو داسلام ي امارت له مجاه د ینو سره په مختلفوولسوالیوکې ملګر ي شرول .دډسمبرپر ۱۲مه نیته دغورولایت ددولینی په ولسوالۍ دچهل ګزی په سیمه کې قوماندان محمدخان اوعبدالمالک خان له (۷۰) مسلحوکسا نوسره چې تراوسه پرخپلو کورونوناست ول دمجاهدنوملګری سول اوپه عملی جها د ی ې لاس پوری کړاودارنګه دپسابند د ولسوالۍ دخلیفها په کل ي کې قوماندان ملااحمداومولوی معروف له (۲۰)مسلحوکسانو سره یوځای ددعوةارشا د په برکت په عملی جهاد کې راګډ شول .

دارنګه دتیوری په ولسوالۍ کې قوم‌ندان محمدامین خان له(۱۰۰) مسلحوکسانوسره اوقوماندا ن ملاعبدالهادی له شلو (۲۰)مسلحونفروسره اوقوماندان رئیس غلام‌حید رخان له (۲۰۰)مسلحوکسا نوسره یوځای د دعوةارشاد ، په هڅود واقعیتونو په درکولوله داسلامي امارت دمج‌هدنوسره یوځای اوپه عملي جهادلاس پوري کړ.

دډسمبرپر ۱۵مه نیته دننګرهارولایت دچپرهارولسوالی کې ۱۱تنه پولیس چې دکابل اداري په چوکاټ کې یې بیلابیلي دندي ترسره کولې داسلامي امارت سره یوځای شول.دغه رازدډسمبرپر ۱۸مه نیت ددغه ولایت په حصارک ولسوالی کې ۳تنه پولیس اوپر ۲۰مه نیته یې په همدې ولسوالی کې ۷تنه داسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شول.

دډسمبرپر ۱۸مه نیته دروزګان ولایت په بیلابیلو سیمو کې ۱۳تنه دمختلفو ولایتونو اوسیدونکې دکبل اداري داردواو پولیسو له لیکوراووتل اوداسلامي امارت سره ملګري شول.

دډسمبرپر۲۲مه نیته دبادغس ولایت د دره بوم ولسوالی دمیان کلی داربکیانوقوماندان خدای داد ولدمولاداد له ۱۲نفروسره اوهمدارنګه دهمد ې ولسوالۍ د تاوی دس ےمي اوسېدونکی قوماندان یاسین ولدامیر له ۱۵نفروسره دګوډاګی اداري څخه راجلا شول

دډسمبر ۲۴مه نیته دبادغس ولایت د دره بوم ولسوالی دزیارت دکلی قوماندان حاجی الله داد له ۲۰نفروسره دغالمي اداري له لیکوراووت اوداسلامي امارت دمجاهدینو ملګری شو.

دډسمبرپر ۲۲مه نیته د غزني ولایت داندړو او دګیروولسوالۍو۴تنه داجیري اداري څخه بیل اودمجاهدینوسره یوځای شول. دغه راز په همد ې نیته دروزګان د چوری ولسوالۍ کې ۱تن عسکرد امارت سره ملګری شو.

دډسمبرپر ۲۷مه نیته دغزنی ولایت داندړودولسوالۍ د مانجود کلي ۱تن له مجاهدینو سره ملګري شو.

دډسمبرپر ۲۷مه نیته د نورستان ولایت دوآب اود نوراکرم په ولسوالیو کې ۵پوستې د دعوت او او ارشاد د هڅو په نتیجه کې د اسلامي امارت سره یوځای شوې .

د شبرغان ولایت د قوشتې په ولسوالی کې شپږ پوستې د یو ارتباطی درمحمد ولد جمعه یار په توسط فتح شوې.

دډسمبر ۲۸مه نیته د کندهارولایت دشاولیکوټ ولسوال ۍ دسپین کیچې دکلي ۱تن دګوډاګۍ اداري له لیکورابیل شو.

داسلامي امارت ددعوت اوارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون له خوا پورته ذکرشووټولو محترمووروڼو ته هرکلی وویل شو ،ددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه ،نغدي انعامونه یې ورکړل او دامنیت دتضمین ترڅنګ یې د پراخي همکارۍ ډاډورکړ

په کابل کې په اصطلاح (د علماوو د غونډې) د تردید په باب د هیواد د نامتو او جیدو علماوو دسترې غونډې

پریکړه لیک

په دې ورستیو کې دهیواد دمختلفو سیمو   نږدې دري سوه تنو جیدو علماء کرامو په یوه شانداره غونډه کې لاندې پریکړه لیک صادر کړچې دخپل ځانګړې اهمیت له مخې یې کتې مټ نشر ته سپارو.

لکه چې خبر یاست دې وروستیو کې د خارجي یرغلګرو په لارښوونه دکابل غلامې ادارې د روان جهاد پر خلاف د وروستۍ ناکامې حربې په بڼه اراده کړې چې کابل کې څو تنه په اصطلاح علماء راټول کړي او د جهاد د روان بهیر په خلاف ترې ناروا فتوی تر لاسه کړي ، تر څو د افغان مجاهد ولس او د اسلامي امارت سر ښندونکیو مجاهدینو هغه روان جهاد چې د شریعت پر ستنو ولاړ او کفار یې د ماتې په درشل ودرولې، کامیابۍ ته پرینږدي، په شعوري ډول یې غلط توجیه او د ناخبرو او ساده لوحو وګړو په زړونو کې شکوک او شبهات وزیږوي چې د دې شوم اقدام په وړاندې د هیواد سلګونو تنو با احساسو علماوو او روحاني شخصیتونو په راتلونکې کې په کابل کې جوړیدونکې پردې پال کنفرانس په خلاف خپل جدي عکس العمل څرګند او په مسؤلانه توګه یې د دې تاریخي رسالت په ایفاء کې غبرګون په لاندې مادو کې نړیوالو ، خپل ولس او هم دې په اصطلاح د علماوو د غونډې برخوالو او منتظمینو ته اعلان کړ:

[وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيَ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ 175 وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَـكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ذَّلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ]

۱- د خارجي يرغلګرو او داخلي اجيرانو په مقابل کې هر ډول مبارزه حقه او سپيڅلی جهاد دی، مخالفت کونکي يې ګمراهان او د اسلام دښمنان دي.

۲- د اشغالګرو او دهغوئ دغلامانو په مقابل کې د مجاهدينو هر ډول ځاني او مالي ايثار تر ټولو غوره جهاد او قرباني ورکونکی يې (عندالله ماجور دی)

۳-څرنګه چه په کابل کې په اصطلاح د علماوو جوړيدونکی مجلس د امريکا په مشرۍ د خارجي يرغلګرو په لارښوونه او هدايت جوړيږي، تر څو لدې لارې خپل يو شمېر منحوس او ښکېلاکي اهداف سر ته ورسوي، ددې غونډې مثال هغو غونډو ته ورته دی چې د پخواني جهاد په مهال به د روسانو او داخلي کمونستانو په لارښوونه د هغه وخت د (شؤن اسلامي) ادارې تر سيورې لاندې جوړېده او يوازې يوه تشريفاتي بڼه به يې درلوده، نوره کومه مثمره فايده به پرې مرتب نه وه، هغه مهال هم د حق د لارې علمای کرامو او مشايخو داسې مجالس چې کفري او بې دينو حلقو د ولسونو د غولو لپاره جوړول په کلکه غندلي وو او اوس هم دادی دا امريکا يې ډوله مجلس غندې او دغه غونډه هم د کمونستانو دشؤن اسلامي د اجير مجلس په شان د باطلو اهدافو لپاره پلې کوونکې غونډه بولي.

۴- څرنګه چې د کابل غونډه د کفري کړيو يوه دسيسه ده، ترڅو په داسې مجلسونو سره الله جل جلاله مکړه د جهاد صف تضعيف کړي، نو د حاضر مجلس برخوال علماء د اسلامي امت له ټولو حقه علماوو څخه عموما او د افغانستان له جيدو علمای کرامو او مشايخو څخه خصوصا د کابل د دې غونډې د تحريم غوښتنه کوي.

۵- د کابل دا نام نهاده کنفرانس د کافرانو او د هغوئ د مزدورانو په ځانګړې مشوره جوړيږي، تر څو د اسلام د دښمنانو مردودو اهدافو ته تحقق ورکړي، نو هر هغه

ځوک چې په دغه غونډه کې د علماوو تر عنوان لاندې په ګډون سره د کافرانو د اهدافو د تحقق وسیله وګرځي، هغوی له شک پرته د(بلعم بن باعورا) وارثان او ملګري دي !

۶-د خارجي یرغلګرو او د هغوئ د داخلي ګوډاګیانو په خلاف روان جهاد یوازې د اسلام سره دهغوئ د دښمنۍ په بنیاد دی او هیڅ قسمه شخصي او نفسي خواهشات په کې دخالت نلري، لهذا هر هغه ځوک چې (داجیرې اردو ، اجیر پولیس ، جاسوسي شبکې، اربکي یا محلي پولیس یا په بل هر نوم اوتر هر عنوان لاندې) د خارجي یرغلګرو سره مرسته او کومک کوي په خلاف یې وسله واله مبارزه مقدس جهاد دی

۷- ځرنګه چې د اسلام په مقدس دین کې د توبې دروازه خلاصه ده نو هر هغه افغان چې تر اوسه پورې یې دناپوهۍ ، دنیاوي مفاد او یا بل غرض لپاره د خارجي یرغلګرو سره تعاون کړی وي، اسلامي امارت د دغو خلکو د پوهاوي ، جلب او جذب لپاره د ((دعوت او ارشاد او جلب وجذب)) په نامه یو مستقل او باصلاحیته کمیسون جوړ کړی، مونږ د اسلامي امارت د دغې پروسې هر کلی کوو او د ټولو مخالفینو ځخه غوښتنه کوو چې له مخالفت ځخه لاس واخلي او د دغې لارې نه له اسلامي امارت سره یو ځای شي !

۸ – د افغانستان له مسلمانو ځوانانو ، د هغو قربانیو او سربښندنو هر کلی کوو چې د اردو ، پولیسو او د امنیت د عسکرو په لباس کې یې د خپل ټوپک خوله په خارجي یرغلګرو ورواړه وله او د جهنم کندې ته یې واچول ، او پاتې شیطاني لښکرې یې له سختې وارخطایي سره مخ کړې دي، دغه راز د نورو مخلصو او بااحساسه ځوانانو ځخه ورته مطالبه کوو چې له اسلامي جذبې ځخه کار واخلي او د دښمن د صفونو په داخل کې د خپلې اسلحې خوله په خارجي یر غلګرو ورواړوي او دې ژوندو لپاره د [شَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ] مصداق وګرځي .

ومن الله التوفیق
۱۴۳۴/۲/۲۸ هق

۱۳۹۱/۱۰/۲۱ هش- ۲۰۱۳/۱/۱۰م

افغانستان د دسمبر په میاشت کې

غلیم تښتي

عبدالقیوم "عتیق"

زموږ د تورو له هیبته غلیم تښتي
خوار ذلیله بې همته غلیم تښتي
دغازیانو په پاڅون سنګر اباد شو
دصلیب لښکر له دې وجهې برباد شو
زور یې مات دی له محنته غلیم تښتي
ای ځوانانو په دښمن فیرونه سم کړئ
در ته پاتې سنګرونه مو محکم کړئ
د تکبیر له برکته غلیم تښتي
وار خطا غلیم هر ځای د ماین ښکار وي
د زلمیو په حملو کې راحصار وي
نور د مړو له کثرته غلیم تښتي
آزادي به مو نصیب شي افغانانو
ویر دی ګډ په کبر جنو دښمنانو
اوس یې ګورئ دیر اوچته غلیم تښتي
موږ لرو په خپل کتاب عقیده سپینه
په وطن مو لورولې د تن وینه
نور به دغه بې جرئته غلیم تښتي
له دې خاورې د وتلو لارې غواړي
نن عتیقه اشغالګر ګوره چې ژاړي
بې احساسه بې عفته غلیم تښتي

قندهار

شاولي‌کوټ: په قرارګاه توغندی وار شو

د کندهار ولایت د شاولي‌کوټ ولسوالۍ د کجور په سیمه کې د غلګو په قرارګاه یو توغندی وتوغول شو، د خبر له قراره توغندي تاکلی هدف وویشت چې له امله یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. 2012-12-01

ښوراوک: یوه بندي عسکر قتل او په تېښته بریالی شو

د کندهار ولایت د ښوراوک ولسوالۍ د سپیني خولې په سیمه کې په یوه امریکایي پوستې کې یو تن بندي مجاهد له یوه سرحدي عسکر ټوپک واخیست او هغه یې ځای په ځای وواژه، خبر وايي نوموړي مجاهد له وسلې سره تر مجاهدینو ځان ورساوه، کله چې د نوموړي په لټون نور عسکر ووتل د مجاهدینو له لوري یو ماین ورباندې وچاودید چې له امله یې دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو. 2012-12-01

ارغسان: 4 پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول

د کندهار ولایت په ارغسان ولسوالۍ کې څلور تنه پولیس هر یو محمد حنیف، عبدالهادي، عبدالباري، عبدالنافع چې د هادي ولسوالۍ د شېرتري د کلي اوسېدونکي او په ګوډاګي اداره کې یې د پولیسو په توګه دنده ترسره کوله د حقایقو په درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول، نوموړو وژمنه وکړه چې نور به له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د دښمن په وړاندې مقابله کوي 2012-12-01

پنجوايي: په وسلوال برید کې 12 اربکیان او عسکر ووژل

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د شادالله له هدیرې سره په پاخه سړک د دښمن په اکمالاتي کاروانونو وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترځ کې دوه تنه محلي پولیس او کاروان ساتونکي عسکر ووژل شول. 2012-12-01

شوراوک: په وسلوال برید کې 6 عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د شوراوک ولسوالۍ د سروسانو په سیمه کې د سرحدي عسکرو په پیاده ګزمه وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال 6 تنه ګوډاګي سرحدي عسکر ووژل شول او دوه تنه نور یې سخت ژوبل شول 2012-12-01

ارغنداب: د محلي پولیسو موټر د ماین ښکار شو

د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د ژوندوله هدیرې سره د محلي پولیسو یو رینجر موټر چې د چړه دار ماین ښکار او په بشپړه توګه له منځه لاړ، په دې سربېره په موټر کې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-12-01

میوند: د پوستې قومندان او یو ساتونکی یې ووژل شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د کلاشاهي درنګویانو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو د یوې امریکایي پوستې په قومندان د ماین چاودنه وشوه، چې اودني قومندان او یو تن ساتونکی ځای په ځای ووژل. 2012-12-02

ژړۍ: د دښمن رینجر په راکټ وویشتل شو

د کندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ د آشوغو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په موټرو وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترځ کې د دښمن رینجر په راکټ وویشتل شو او د اور په لمبو کې ولوېده، په پېښه کې دښمن ته مرګ ژوبله هم واوښته خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-12-02

میوند: له ګوډاګیو عسکرو سره 2 واره جګړه وشوه

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاریزک په سیمه کې له ګوډاګیو عسکرو سره دوه واره سخته جګړه ترسره شوه، د جګړې په ترځ کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې 2012-12-02

غورک: په پوسته برید کې 2 عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د چهارپایاو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د خبر له قراره د برید په مهال دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول. 2012-12-02

ژړۍ: د محلي پوليسو په پوسته وسلوال بريد ترسره شو

د کندهار ولايت د ژړۍ ولسوالۍ د نلغام په سيمه کې د محلي پوليسو په پوسته وسلوال بريد ترسره شو، د بريد په مهال د پوستې يو برج د مجاهدينو له لوري په راکټ وويشتل شو ونړېده او پکې ناست يو تن محلي پوليس ووژل شو. 2012-12-02.

پنجوايي: ټانک او 3 عسکر له منځه لاړل

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د خانانو له کورونو سره نژدې د ګوډاګيو عسکرو په ټانک د ماين چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ويجاړ او پکې سپاره 3 تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او يو بل سخت ژوبل شو. 2012-12-02.

بولدک: ټانک او 13 اشغالګر له منځه لاړل

د کندهار ولايت د بولدک ولسوالۍ د لوی کاريز په سيمه کې د مؤسسې په سړک د ښکېلاکګرو عسکرو په ټانک د ماين چاودنه وشوه، د چاودنې ټانک بشپړ ويجاړ او پکې سپاره درې تنه اشغالګر ووژل او يو بل يې سخت ژوبل کړ. 2012-12-02

کندهار د سپېشل فورس يو تن قومندان (جمعه ګل) ووژل شو

د کندهار ولايت د کندهار ښار د ډبرو له پله سره د لووالې په سيمه کې د سپېشل فورس يو تن قومندان (جمعه ګل) د مجاهدينو د غلچکي بريد په ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو 2012/12/02.

پنجوايي: په پوسته بريد 1 عسکر قتل 2 ژوبل شول

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د سپېروان په سيمه کې نال ته څېرمه د ګوډاګيو عسکرو په پوسته وسلوال بريد ترسره شو، د بريد په ترڅ کې د دښمن يو تن عسکر ووژل شو، دوه تنه سخت ژوبل او پاتې نور يې په تېښته بريالي شول. 2012-12-03

پنجوايي: ماين يو بهرنی عسکر مړ 2 ژوبل کړل

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د ټلمبي په سيمه کې د اشغالګرو پر پلې ګزمه د ماين چاودنه وشوه، د چاودنې له امله يو تن بهرنی عسکر ووژل شو او دوه تنه نور سخت ژوبل شول 2012-12-03

ميوند: په جګړه کې يو رېنجر او 4 عسکر له منځه لاړل

د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاريزک په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په پوسته وسلوال بريد ترسره شو، د بريد په ترڅ کې د دښمن يو رېنجر موټر د مجاهدينو له لوري په راکټ وويشتل شو چې څلور تنه ګوډاګي عسکر پکې ووژل شول او درې تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-04.

شوراوک: د سرحدي عسکرو ټانک د ماين ښکار شو

د کندهار ولايت د شوراوک ولسوالۍ د چونۍ په سيمه کې د سيدنو کله له زيارت سره د ګوډاګيو سرحدي عسکرو ټانک د ماين ښکار او په بشپړه توګه لاړ، په دې سربېره په ټانک کې ناستو 6 تنو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته 2012-12-04

ميوند: په جګړه کې 3 عسکر ووژل شول

د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاريزک په سيمه کې له ګوډاګيو عسکرو سره سخته جګړه وشوه، د جګړې په مهال 3 تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او يو بل سخت ژوبل شو. 2012-12-04.

پنجوايي: 2 عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ بازار ته څېرمه د غرګانو په سيمه کې د دوې پوستې په عسکرو وسلوال بريد ترسره شو، په بريد کې دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول. 2012-12-04.

تخته پل: د اشغالګرو 2 ټانکونه د ماينونو ښکار شول

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ د ملې په سړک د يرغلګرو دوه ټانکونه د ماينونو ښکار شول، د چاودنو له

له امله دواړه ټانکونه په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناست عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-12-04

ژړی: دوه محلي پولیس قتل مهمات یې غنیمت شول

د کندهار ولایت د ژړي ولسوالۍ د کدل په سیمه کې په محلي پولیسو وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترڅ کې دوه تنه محلي پولیس ووژل شول دوه میله کلاشنکوفونه او دوې چاینکې یې غنیمت شوې. 2012-12-04

کندهار: د جاسوسي شبکې مهم غړی ووژل شو

د کندهار ولایت د کندهار ښار د چوڼۍ په سیمه کې د ښکېلاکګرو عسکرو د جاسوسۍ شبکې یو تن مهم غړی (شکور) چې د ملا صاحب په سرای کې د مېشتو امریکایي اشغالګرو د جاسوسي شبکې یو مهم غړی و، د مجاهدینو له لوري د یوه غلچکي برید په ترڅ کې ووژل شو. 2012-12-05

میوند: په چ ګره کې موټر تخریب 6 عسکر مړه او ژوبل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاریزک په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال د دښمن یو رینجر چلونکی ووېشتل شو او رینجر چپه شو، په پېښه کې دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او څلور تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-05

پنجوایي: په چ ګره کې یو عسکر ووژل شو

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د زنګاوات د سپانزو په سیمه کې په پاخه سړک له ګوډاګیو عسکرو سره سخته چ ګره وشوه د برید په مهال د دښمن یو عسکر ووژل شو خو د نورو تلفاتو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-12-05

میوند: په ټانک چاودنې 5 یرغلګر مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاریزک په سیمه کې د اشغالګرو ټانک د ګزمې په حال کې د ماین ښکار شو، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره دوه تنه یرغلګر ووژل شول او درې تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-05

پنجوایي: ماین د 2 عسکرو ژوند واخیست

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د زنګاوات د سپانزو په سیمه کې د ګډ دښمن په پیاده ګزمه د ماین زوروره چاودنه وشوه، د چاودنې له امله دوه تنه عسکر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو 2012-12-05

ډنډ: رینجر او 4 عسکر له منځه لاړل

د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ زنخان ته نژدې د ولکانو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو رینجر موټر د ماین ښکار شو، په چاودنه کې رینجر په بشپړه توګه ویجاړ، څلور تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او دوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-05

پنجوایي: په کمین کې 2 اربکیان ووژل شول

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سپیروان کورونو ته څېرمه په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال دوه تنه اربکیان ووژل شول. 2012-12-06

شاولیکوټ: د ښکېلاکګرو 3 ټانکونه له منځه لاړل

د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ دالي دم ته نژدې د خ نګله په سیمه کې د اشغالګرو درې ټانکونه یو په بل پسې د ماینونو ښکار شول د چاودنو له امله درې واړه ټانکونه په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2012-12-06

پنجوایي: له ګوډاګیو عسکرو سره 2 ځله چ ګره وشوه

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سپیروان غونډۍ په سړک له ګوډاګیو عسکرو سره دوه ځله سخته چ ګره ترسره شوه، په چ ګره کې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. 2012-12-06

میوند: په ټانک چاودنې 3 عسکر مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د بندت یورد لښکرګاه دوراهي ته څېرمه په پاخه سړک د ګوډاګیو

عسکر و ټانک د ماین ښکار شو، د چاودنې له امله ټانک تخریب او پکې ناست عسکر یو تن ووژل شو او دوه تنه نور سخت ژوبل شول 06-12-2012

میوند: قومندان تورجان ووژل شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د کلاشام په د عظیم جان کاریز په سیمه کې په محلي پولیسو د وسلوال برید په مهال د دوی د سیمه ایزې پوستې قومندان تورجان ووژل شو او دوه تنه ساتونکي یې سخت ژوبل شول. 06-12-2012

میوند: په برید کې یو اربکی ووژل شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د گوماوک داشغابا د په سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې د دښمن رینجر په وړ و مرمیو تخریب او په دې سربیره یو تن اربکی ووژل شو. 06-12-2012

میوند: له دښمن سره دوه واره جګړه وشوه

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د گوماوک د کاریزک په سیمه کې په سړک ساتونکو امریکایي عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 06-12-2012

کندهار: دوه پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول

په کندهار ولایت کې دوه تنه پولیس هریو نانی اغا د خاکریز ولسوالۍ د چنار د کلي اوسېدونکی او آغا ولي دارغستان ولسوالۍ د سپنه کلي اوسېدونکی د حقانیت په درک کولو له کوډاګۍ اداري بېل او له اسلامي امارت سره یوځای شو. 06-12-2012

ډنډ: د قومندان عبدالله په موټر ماین وچاودېد

د کندهار ولایت د کندهار ښار ته نژدې د ډنډ ولسوالۍ د شري سورخ کلي ته څېرمه د دوی امنیتي پوستې قومندان عبدالله په موټر د ځمکني ماین چاودنه وشو، د چاودنې له امله موټر تخریب او یاد قومندان یو تن ساتونکی ووژل شو. 06-12-2012

میوند: سرف او 2 عسکر له منځه لاړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د خاکي چوپان په سیمه کې په پاخه سړک د دښمن د اکمالاتي کاروان په سرف موټر د چره دار ماین چاودني موټر ویجاړ او پکې سپاره دوه تنه ساتونکي عسکر ووژل او یو بل یې سخت ژوبل کړ. 07-12-2012

میوند: موټر چپه او 2 عسکر ووژل شول

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د خاک چوپان په سیمه کې په پاخه سړک ولاړ 2 امریکایي عسکر د چره دار ماین چاودني ځای په ځای ووژل، چاودنه هغه مهال وشوه چې د دښمن یو ځای ته د اکمالاتي کانتینر د رارسېدلو په حال کې وو، خبروایي کانتینر موټر د چلونکي د وارخطایي له امله چپه شو 07-12-2012

غورک: 2 موټرسایکلان او 4 اربکیان له منځه لاړل

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د کوکک په سیمه کې د چغال غونډۍ ته څېرمه د اربکیانو دوه موټرسایکلان یو په بل پسې د ماینونو ښکار شول، د چاودنو له امله دواړه موټرسایکلان په بشپړه توګه ویجاړ او ورباندې سپاره څلور تنه اربکیان ووژل شول. 07-12-2012

غورک: د کمین په برید کې یو اربکی ووژل شو

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د کوکک په سیمه کې په دوو تنو اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې یو اربکی ځای په ځای ووژل شو او بل په تېښته بریالی شو. 07-12-2012

غورک: داربکیانو په 2 پوستو بریدونه وشول

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د ترگي په سیمه کې د اربکیانو په پوسته او د چنار کلي ته څېرمه په یوه امریکایي پوسته وسلوال برید ترسره شو، په دواړو بریدونو کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو کره معلومات یې نه دي ترلاسه شوي. 07-12-2012

میوند: په موټر چاودني 5 اربکیان مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د کلاشام په د باچا اغا کورونو ته نژدې د اربکیانو په موټر د ماین چاودنه وشوه،

د چاودنې له امله موټر وچاودېد او پکې سپاره درې تنه اربکیان ووژل شول او دوه تنه نور سخت ژوبل شول 2012-12-07

پنجوايي: 7 عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د خانانو کورونو سره په پاخه سړک د ګوډاګیو عسکرو په دوه ټانکونو چېره دار ماینونه وچاودېدل، له چاودنو وروسته مجاهدینو په دښمن وسلوال برید ترسره کړ، په برید کې څلور تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او 7 تنه نور سخت ژوبل شول . 2012-12-07

خاکریز: د اشغالګرو 3 ټانکونه له منځه لاړل

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ د باغکي په سیمه کې د اشغالګرو عسکرو په درو ټانکونو چې د اکمالاتي کاروان د امنیت په موخه له یاد کاروان سره مله وو، درې بېلا بېلې چاودنې وشوې، چاودنو درې واړه ټانکونه په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله واوښته2012-12-07

معروف: ماین د قومندان دواړه لاسونه او سترګې له منځه یووړ

د کندهار ولایت د معروف ولسوالۍ د سرای ال په سیمه کې د محلي پولیسو د یوې امریکي پوستې په قومندان (شمس الدین) د تکړکي ماین چاودنه وشوه، د خبر له قراره چاودنې د نوموړي دواړه سترګې او دواړه لاسونه له منځه یووړل. 2012-12-08

مېوند: له اشغالګرو سره سخته جګړه وشوه

د کندهار ولایت د مېوند ولسوالۍ د کلاشاهي د شلغمي مانده په سیمه کې په هغه اشغالګرو دوه ځله وسلوال برید ترسره شو چې په یاده سیمه کې د چورلکو په مټ راښکته شوي وو، په بریدونو کې دښمن ته دوراوښتي تلفاتو دقیقه شمېره نه ده څرګنده شوې. 2012-12-09

غورک: ماین د 12 اربکیانو ژوند واخیست

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د غونچي کاریز په سیمه کې د اربکیانو په پلي ګزمه د ماین درنه چاودنه وشوه، چاودنې دوه تنه اربکیان ځای په ځای ووژل او یو بل یې سخت ټپي کړ. 2012-12-09

مېوند: ماین 2 عسکر ووژل

د کندهار ولایت د مېوند ولسوالۍ د کلاشاهي د چشمو په سیمه کې په ګوډاګیو پلیو عسکرو د ریموټ په توسط د ماین چاودنه وشوه، د چاودنې له امله دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول . 2012-12-09

غورک: په پوسته برید 3 اربکیان مړه او ژوبل شول

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د جوګېن کلي ته څېرمه د اربکیانو په امریکي پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې یو اربکی ځای په ځای ووژل شو او درې تنه نور سخت ژوبل شول . 2012-12-09

پنجوايي: ماین 4 عسکرو ته مرګ ژوبله واوړوله

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د خانانو کورونو ته څېرمه د ګوډاګیو عسکرو د کمین په ځای کې د چېره دار ماین چاودنې دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل او دوه تنه نور یې سخت ژوبل کړل. 2012-12-09

مېوند: له ګوډاګیو عسکرو سره جګړه ترسره شوه

د کندهار ولایت د مېوند ولسوالۍ د ګوماوک د اشخاباد په سیمه کې له ګوډاګیو عسکرو سره سخته جګړه ترسره شوه، د جګړې په ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي . 2012-12-10

مېوند: اربکیانو لس کلن ماشوم شهید کړ

د کندهار ولایت د مېوند ولسوالۍ د ګوماوک د مشک کاریز په سیمه کې اربکیانو یو لس کلن ماشوم شهید کړ . انا لله وانا الیه راجعون2012-12-10

مېوند، له دښمن سره 2 ځله جګړه وشوه

د کندهار ولایت د مېوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاریزک په سیمه کې د سړک په امریکي عسکرو دوه ځله وسلوال برید

ترسره شو، په بریدونو کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي 2012-12-10

میوند: اشغالګرو خپله غټه قرارګاه تخلیه کړه

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ بازار ته نږدې د ملنګ کاریز په سیمه کې اشغالګرو خپله غټه قرارګاه تخلیه کړه او په قرارګاه کې یې د اجیري اردو عسکر ځای په ځای کړل . 2012-12-10

پنجوایي : ماین د یوې غلګي قتل بل ژوبل کړ

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سپېروان د مکتب په سیمه کې د ښکېلاکګرو عسکرو په پلې ګزمه د ماین چاودنه وشوه، د چاودني له امله یو تن بهرنی عسکر ووژل شو او یو بل سخت ژوبل شو . 2012-12-10

میوند: په سرف چاودني 1 عسکر مړ 2 ټپیان کړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د کلنکچې غونډۍ ته څېرمه د دښمن د اکمالاتي کاروان ساتونکو عسکرو په سرف موټر د چره دار ماین چاودني موټر په بشپړه توګه ویجاړ او پکې سپاره عسکر یو تن وواژه او دوه تنه نور یې سخت ژوبل کړل. 2012-12-10

دامان : په جګړه کې 3 سکورټیان ووژل شول

د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ د قاضي کاریز په مربوطاتو کې د دښمن د اکمالاتي کاروان له ساتونکو عسکرو سره د شدیدې جګړې په مهال درې تنه سکورټیان ووژل شول. 2012-12-10

غورک: چاودنو اشغالګرو ته درانه تلفات واړول

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د نالي په سیمه کې د اشغالګرو په هغه پلي عسکرو 3 ماینونه وچاودېدل چې له قرارګاه څخه راوتلي وو، د چاودنو له امله دښمن ته درنه مرګ ژوبله اوښتې خو دقیقه شمېره یې نه ده په ډاګه شوې، وروسته دښمن چورلکو په سیمه کې سخته بمباري وکړه چې له امله یې 3 تنه مجاهدین زخمیان او 5 نور د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل ، انا لله وانا الیه راجعون 11–12–2012

تخته پول: په ټانک چاودنې 4 یرغلګر مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولایت د تخته پول ولسوالۍ د ملي د په سړک د ښکېلاکګرو زغروال ټانک د ماین ښکار شو د چاودني له امله ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او پکې ناستو 4 تنه اشغالګرو ته مرګ ژوبله اوښته 2012-12-11

پنجوایي : ماین یو بهرنی وواژه

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سپېروان په سیمه کې مکتب ته نږدې د یرغلګرو په پلې ګزمه د ماین چاودني یو تن بهرنی عسکر ځای په ځای وواژه ، له چاودني وروسته په دښمن وسلوال برید هم ترسره شو خو په ترڅ کې یې دښمن ته د اوښتو تلفاتو دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي 2012-12-11

پنجوایي : په برید کې 2 یرغلګر وویشتل شول

د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سپېروان په سیمه کې د یرغلګرو په پلې ګزمه وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال دوه تنه یرغلګر ځای په ځای ووژل شول 2012-12-11

تخته پول: یو بل ټانک ویجاړ 5 عسکر مړه او ژوبل شول

د کندهار ولایت د تخته پول ولسوالۍ د ملي د په سړک د اشغالګرو یو بل زغروال ټانک د ماین ښکار او پوره له منځه لاړ، وروسته د پېښې ځای ته په نورو راروانو پلیو عسکرو یو کنداني ماین وچاودېد چې له امله یې 5 تنه ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله اوښته . 2012-12-11

شوراوک : له ګډ دښمن سره جګړه وشوه

د کندهار ولایت د شوراوک ولسوالۍ مرکز ته څېرمه په رود کې د ګډ دښمن له هغه عسکرو سره سخته جګړه ترسره شوه چې سیمې ته د عملیاتو په موخه راغلي وو، په جګړه کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي . 2012-12-12

پنجوايي : له دښمن سره 2 واره جګړه وشوه

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د سپانزو په سیمه کې او دغه راز د زنګ اوات د شادالله د هډ یوي سره په ګوډاګیو عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په دواړو بریدونو کې د دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه يې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي . 2012-12-12

غورک : یو مهم اربکی احمدالله ووژل شو

د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ د ونو په سیمه کې د اربکانو یو مهم او فعال غړی احمدالله چې له کور څخه چوستې په لور روان ؤ د ماین په چاودنه کې ووژل شو 2012-12-12

خاکریز : ماین یو عسکر قتل 2 ژوبل کړل

د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ د اسد په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه د ماین د چاودنې له امله یو تن ګوډاګی عسکر ځای په ځای ووژل شو او دوه تنه نور سخت ژوبل شول . 2012-12-12

پنجوايي :2 بهرنیان قتل او یو ګوډاګی عسکر سخت ژوبل شوی

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د تولکان د مړکانو کلي ته څېرمه د اشغالګرو او ګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه د ماین درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله دوه تنه یرغلګر ووژل شول او یو تن ګوډاګي عسکر دواړه پښې غوڅې شوې .د خبر له قراره وروسته د پېښې ځاي ته د راروانو یرغلګرو یو ټانک د ځمکني ماین د چاودني له امله ټوټه ټوټه او پکې سپاره څلور تنه یرغلګر ووژل شول 2012-12-12

میوند: یو ټانک او دوه اکمالاتي موټر له منځه لاړل

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ګوماوک د کاریزک کاریز په سیمه کې په امریکايي عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې د اجوري اردو یو ټانک په راکټ وویشتل شو او وسوځېد، دغه راز د دښمن دوه عراده اکمالاتي موټر چې د ګوماوک چې په سیمه کې يې د اشغالګرو قرارګاه ته يې مواد انتقالول په دهشکه وویشتل شول او په بشپړه توګه وسوځول شو . په پېښه کې دښمن ته ځاني تلفات هم واوښتل خو په اړه يې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-12-13

پنجوايي : ماین یو بهرنی قتل 2 ژوبل کړل

د کندهار ولایت پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات په سیمه کې د ښکېلاکګرو په پلې ګزمه د ماین چاودني یو تن بهرنی عسکر ځای په ځای وواژه او دوه تنه نور يې سخت ژوبل کړل. 2012-12-13

کندهار د ملي امنیت کارمند ووژل او وسلې يې غنیمت شوه

د کندهار ولایت د کندهار ښار د زرغوني انا لیسې ته څېرمه د ملي امنیت یو تن کارمند د مجاهدینو له لوري په غلچکي برید کې ځای په ځای ووژل شو او کلاشنکوف يې غنیمت شو. 2012-12-13

میانشین : له یرغلګرو سره سخته جګړه وشوه

د کندهار ولایت د میانشین ولسوالۍ د مندي کلي سیمو ته یو شمېر یرغلګر چې ټانکونو يې ملاتړ کاوه د عملیاتو په موخه راغلل او سمدستي د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه يې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي . 2012-12-13

کندهار ښار : یو تن دولتي کارمند ووژل شو

د کندهار ولایت د کندهار ښار د چوڼۍ په سیمه کې د سفا حمام ته څېرمه یو تن دولتي کارمند ګل آغا چې په ولایت کې يې دنده ترسره کوله د مجاهدینو له خوا د غلچکي برید په مهال ووژل شو . 2012-12-13

د کندهار په هوايي برید کې 8 یرغلګر او یو ټانک له منځه لاړل

د کندهار ولایت د کندهار د هوايي اډې په دروازه کې د امریکا لپاره په ګومارل شویو خارجي عسکرو په داسې حال کې چې یو تن فدايي مجاهد سیف له لوري د سرف موټر په توسط فدايي برید ترسره شو چې د امریکا د دفاع وزیر پنیټا هم په یاد هوايي ډګر کې ؤ، په برید کې د اشغالګرو یو ټانک

په بشپړه توګه وېجاړ او 8 تنه یرغلګر ووژل شول او 6 تنه نور عسکر سخت ژوبل شول 2012-12-13

پنجوايي : په ټانک چاودنې 5 یرغلګر مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د مشان له غونډۍ سره د ښکېلاکګرو په ټانک د ځمکني ماین درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه وېجاړ او پکې ناست 5 تنه ښکېلاکګرو ته مرګ ژوبله اوښتې ده 2012-12-14

میوند: له کاروان ساتونکو سره سخته جګړه وشوه

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د بند تیمور د لښکر ګله دوراهي ته څېرمه په پاخه سړک د دښمن د اکمالاتي کاروان ساتونکو عسکرو سره سخته جګړه وشوه، د جګړې په ترځ کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2012-12-14

شاولیکوټ : ټانک او 3 یرغلګر له منځه لاړل

د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند دسکي په دښت کې د یرغلګرو په ټانک د ماین درنه چاودنه وشوه د چاودنې له امله ټانک په بشپړه توګه وېجاړ او پکې سپاره 3 تنه یرغلګر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو. 2012-12-15

پنجوايي : ماین د 2 عسکرو ژوند واخیست

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د پټلمبې قرارګاه ته څېرمه د ګوډاګیو عسکرو په پلې ګزمه د ماین درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله دوه تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او یو بل سخت ژوبل شو. 2012-12-15

پنجوايي : په برید کې یو اربکی قتل 2 ژوبل شول

د کندهار ولایت د پنجوايي ولسوالۍ د سپېروان په سیمه کې د یزید قومندان د پوستې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال یو اربکی ووژل شو او دوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-15

میوند: یو عسکر په دراز کوف وویشتل شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ملالۍ انا له زیارت سره یو تن ګوډاګی عسکر د مجاهد ټولې لوري په دراز کوف وویشتل شو او ووژل شو وروسته سیمې ته نور عسکر راغلل چې د مجاهد ټولې کېښن سره مخ شول په جګړه کې دښمن ته تلفات واوښتل او د تلفاتو په لیږدلو سره له سیمې وتښتېدل. 2012-12-16

ګري : له اشغالګرو جګړې په مهال 9 کلیوال شهیدان کړل

د کندهار ولایت د خاکریز او شاولیکوټ ولسوالیو ترمنځ د ګري په سیمه کې ګڼ شمېر یرغلګرو د چورلکو په مټ راښکته او د مجاهدینو تر وسلوال برید لاندې راغلل، د برید په مهال دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقیقه شمېره یې نه ده څرګنده شوې، په شدیده جګړه کې 5 تنه مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل، خبرواېي د دښمن عسکرو پنځه تنه ولسي وګړي له تراکتور څخه راښکته او په شهادت ورسول او څلور تنه نور یې له کورونو راوایستل او په شهادت یې ورسول. انا لله وانا الیه راجعون 2012-12-16

شاولیکوټ: د دښمن 2 موټر وېجاړ 7 تنه مړه او ژوبل شول

د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ د داند رانو کلي ته څېرمه د تریڅکوټ پر لویه لاره د دښمن د اکمالاتي کاروان ساتونکو عسکرو په سرف موټر چېره د ماین چاودنه وشوه، له چاودنې سره سم د دښمن عسکر تر وسلوال برید لاندې راغلل، په برید کې دوه تنه عسکر ووژل شول او درې تنه نور سخت ژوبل شول په دې سربېره یو غټ اکمالاتي موټر په بشپړه توګه وېجاړ او دوه تنه چلونکي یې ووژل شول. 2012-12-16

بولدک : یو عسکر په غلچکي برید کې ووژل شو

د کندهار ولایت د بولدک ولسوالۍ د ویش د حاجي ظاهر له کلا سره دی وه غلچکي برید په مهال یو تن سرحدي عسکر ووژل شو. 2012-12-16

پنجوايي: ماين د 12 اشغالګرو ژوند واخيست

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د مشان په سيمه کې د سيداتو کلي ته څېرمه د ښکېلاکګرو په پلې ګزمه د ماين زوروره چاودنه وشوه، د چاودنې له امله دوه تنه يرغلګر ووژل شول او يو بل سخت ټپي شو. 2012-12-16

پنجوايي: د ښکېلاکګرو ګزمه تر بريد لاندې راغله

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د سپېروان د غونډۍ په سيمه کې د ښکېلاکګرو په پلې ګزمه وسلوال بريد ترسره شو، په بريد کې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. 2012-12-17

پنجوايي: په تکتيکي بريد کې 2 عسکر ووژل شول

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات په سيمه کې په ګوډاګيو عسکرو د وسلوال بريد په مهال دوه تنه ګوډاګي عسکر ځای په ځای ووژل شول 2012-12-17

مېوند: په امريکايي عسکرو وسلوال بريد ترسره شو

د کندهار ولايت د مېوند ولسوالۍ د ګوماوک د ملالۍ اناله زيارت سره د سړک په امريکايي عسکرو وسلوال بريد ترسره شو، د بريد په ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه يې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-12-17

پنجوايي: په ټانک چاودنې 4 يرغلګر مړه او ژوبل کړل

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د دوآب په سيمه کې د يرغلګرو په ټانک د ماين درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک دوه ټوټې شو او پکې سپاره 4 تنه اشغالګر مړه او ژوبل شول. 2012-12-18

پنجوايي: په جګړه او چاودنو کې دښمن ته تلفات واوښتل

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د سپانزو په سيمه کې د دښمن د اکمالاتي کاروان په ساتونکو عسکرو د چره دار ماين چاودنه وشوه، له چاودنې سره سم په دښمن وسلوال بريد هم ترسره شو، په بريد کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خو دقيقه شمېره يې نه ده څرګنده شوې. 2012-12-18

مېوند: رېنجر د چره دار ماين ښکار شو

د کندهار ولايت د ډنډ ولسوالۍ د ناخوني په سيمه کې د مسکين اباد کلي ته نژدې د ګوډاګيو عسکرو يو رېنجر موټر د چره دار ماين ښکار شو، د چاودنې له امله موټر تخريب او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2012-12-18

کندهار: د ښکېلاکګرو جاسوس ووژل شو

د کندهار ولايت د کندهار ښار د چوڼي په سيمه کې مأموريت ته نژدې اشغالګرو ته د جاسوسي شبکې يو غړی بريال د يوه غلچکي بريد په پايله کې ووژل شو 2012-12-18

مېوند: له ګوډاګيو عسکرو سره سخته جګړه وشوه

د کندهار ولايت د مېوند ولسوالۍ د ګوماوک د لوی کارېز په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په ګزمه وسلوال بريد ترسره شو، په بريد کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه يې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-12-19

پنجوايي: ماين 2 عسکر ژوبل کړل

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د زنګاوات د سپانزو په سيمه کې په پاخه سړک د ګوډاګيو عسکرو په پلې ګزمه د چره دار ماين د چاودنې له امله دوه تنه ګوډاګي عسکر سخت ژوبل شول 2012-12-19

مېوند: ماين يو عسکر قتل 2 ژوبل کړل

د کندهار ولايت د مېوند ولسوالۍ د کلاشام يو د کوکي په سړک د ګوډاګيو عسکرو په پلې ګزمه د ماين چاودنه وشوه، د چاودنې له امله يو تن ګوډاګی عسکر ووژل شو او دوه تنه نور سخت ژوبل شول. 2012-12-19

ژړی: په پوسته بريد 2 اربکيان ووژل شول

